# که زه شاعر وای

(شعري ټولګه)

## اسد زمري

دیجیتال جوړښت: قاسم آسمایی

نشر: د راه پرچم انتشارات

د کتاب پېژندنه

عنوان: که زه شاعر وای (شعری ټولګه)

شاعر: اسد زمری

دیجیتال جوړښت: قاسم آسمایي

نشر: د راه پرچم انتشارات د ۲۰۲۱ کال نومبر

# فهرست

د دې ټولګې په هکله څو خبرې.....................................................أ
اسد زمری او د شعر پر ژانر یې څو خبرې ........................................ ج
بغاوت ........................................................................... ۱
غزل ............................................................................. ۳
ارزاني........................................................................... ٤
داغلي زړونه ..................................................................... ٥
هرڅه وسوځیدل................................................................. ٦
باغي غوښتنې................................................................... ۷
زه او د وطن ژبې او قومونه ...................................................... ۹
ویده کوربه....................................................................... ۱۱
بېوسي ........................................................................... ۱۳
د افغانستان خلک دموکراتیک (وطن) ګوند د غړو ترانه ......................۱۵
مدیترانه.......................................................................... ۱۷
خدایه ............................................................................ ۱۹
بدمرغه ملت ..................................................................... ۲۰
ښکیل شوی زړه ................................................................. ۲۲
غزل .............................................................................. ۲۳
څه لټوم .......................................................................... ۲۵
چا؟؟؟ ............................................................................ ۲۷

اکسیر ..................................................................... ۲۸
الیشنګ....................................................................... ۲۹
رخشانه ..................................................................... ۳۱
د شعر لیکلو وخت ........................................................ ۳۶
سقوط ...................................................................... ۳۸
غزل ........................................................................ ۳۹
زه ........................................................................... ٤۰
خوښي ..................................................................... ٤۳
د ماتم څادر ............................................................... ٤٤
ګاونډیان.................................................................... ٤۸
مرورآشنا .................................................................. ٤۹
پښتو ........................................................................ ۵۰
د لمر غمیزه ............................................................... ۵۲
رسیدل ...................................................................... ۵٦
لیدل......................................................................... ۵۸
غزل ......................................................................... ۵۹
ښکلی غزل ................................................................ ٦۰
شعر......................................................................... ٦۲
برباد غرور ............................................................... ٦۳
د جام نغمه ................................................................ ٦۵

 څنګه.................................................................. ٦٧
خوږلنې خبرې ........................................................... ٦٨
زخمي احساس .......................................................... ٦٩
د وفا اندازه.......................................................... ٧١
د زمري ایمان ........................................................ ٧٢
ځانمرګی ............................................................... ٧٣
شين لغمان............................................................ ٧٤
د افغان اختر......................................................... ٧٥
غزل .................................................................... ٧٦
زما حال................................................................ ٧٧
شيخه ................................................................... ٧٨
اسم اعظم .............................................................. ٧٩
په شونډو ............................................................... ٨١
ښځه ..................................................................... ٨٢
دښمن.................................................................... ٨٨
تنده ..................................................................... ٨٩
د ولس پاڅون........................................................... ٩١
ورک ګوهر .............................................................. ٩٢
د ښکلا غزل............................................................. ٩٣
د سفر موخه ............................................................ ٩٤

که زه شاعر وای ........................................................................ ۹۵
زرینې اندیښنې........................................................................ ۹۸
غزل ........................................................................ ۹۹
بېچاره ګي ........................................................................ ۱۰۰

## د دې ټولګې په هکله څو خبرې

لا نوی ځوان وم چې د هیواد او هیوادوالو دردونکي او ربړونکي حالت، د ترقي او د وضعې د تغییر له لارویانو سره یو ځای کړم، د ټولنیز عدالت په دې مکتب کې مې د وطنپالنې درس ولوست .

له ۱۳۵۲ کال څخه تر ۵۶ پورې د هیواد د پایتخت کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي محصل وم ، کابل او پوهنتون یې نه یوازې د هیواد علمي او فرهنګي مرکز وه بلکې د سیاست نبض هم دلته په ښه زور تپیده نو په داسې ماحول کې اوسیدل او له ادبي ـ سیاسی شخصیتونو سره ناستې ولاړې او د انقلابی ادبیاتو مطالعې، د ځوانۍ د دورې او میینتوب احساسات مې له افکارو او عواطفو سره یوځای شول او زه یې دې ته وهڅولم تر څو خپل احساسات او عقاید او د وطن اوضاع او د هغې د بدلون په هکله عقاید او انګیرنې د شعر په فورم کې بیان او له دې وسیلې نه هم د هیواد د ترقۍ او د محرومو پرګنو د بیدارۍ او هوسایۍ په مقصد کار واخلم.

د دوستانو په تشویق او مرسته مې یوه مجموعه د طبعې او نشر د دولتي کمیټې لخوا خپره شوه او بله مې چې چاپ ته تیاره وه د مجاهدینو د ځپل‌منځي جګړو په اور کې له دولتي مطبعې او ټول هیواد سره یوځای په اور کې وسوځیده او پاتې نور د څلور سوه شعرونو په شاو خوا کې د شعرونو کتابچې مې هم دې غلو د "غنیمت" په نامه د کور له وسایلو سره غلا کړې.

له ۱۳۷۰ کال وروسته مې د تورو ارتجاعي ډلو د حاکمیت او د بهرني اشغال د فاجعې سربیره د جلاوطنۍ دروند پیټی هم پر اوږو بار شو نو ځکه مې ساندې او فریادونه لا ترخه او سوزناکه شول او شمیر یې له پنځه نیم سوو واوښت .

له وطن او له رنځیدلو وطنوالو سره بې کچه مینې او نه شلیدونکو اړیکو هیڅکله آرام ته نه یم پرې ایښی نو که مې په شعر کې د ځان په هکله څه ویلي نو مې خپل ولس سترګو ته ولاړ و او ځان مې د خپلې ټولنې د یوې برخې په توګه مطرح کړی دی.

هیڅکله مې د خپل شهرت په هکله فکر نه دی کړی نوځکه مې د معمول پرخلاف د زیاتو شعرونو په مقطع کې نوم نه دی راوستی او خپرولو ته یې ډیر لیوال نه وم، دا اندیښنه مې هم درلوده چې لیکنې به مې د صلاحیت خاوندان د شعر په حیث و نه مني ، اوس هم ځان شاعر نه بولم نو ځکه مې هغه څه چې په دې کتاب کې راټول کړي دي د «که زه شاعر وای» نوم ایښی دی او له شاعر څخه مې په همدې نامه یو شعر کې دې دا ډول شعرونو د لیکلو غوښتنه کړي ده.

اوس چې طالبي حاکمیت د هر ډول فرهنګی فعالیت زمینه او امید او د هغو له جملې نه د کتاب د چاپ امکانات له منځه وړي نو ځکه دا ټولګه د آنلاین په ټوګه خپریږي.

د هیواد د وتلي قانون پوه او نه ستړي کیدونکي فرهنګي هڅاند ښاغلي قاسم آسمایی نه د زړه له کومې مننه کوم چې د کتاب د ډیزاین ،دیجیتالولو او خپرولو چارې یې په پراخ تندي ومنلې او دا ټولګه یې خپره کړه.

هیله من یم چې ګران او قدرمن لوستونکي به خپل نقدونه، نظریات او ارزونې زما د رهنمایۍ او دکمبودیو د لیری کولو په مقصد رانه ونه سپموئ.
په درنښت او مینه

اسد زمری

اکبر کرګر

## اسد زمری او د شعر پر ژانر یې څو خبرې

زما ګران او زړه ته را نږدې دوست، د پوهنتون د دورې ملګری او د ګوندي حوزو د پېنځې سرلاري را ته په دې وروستیو وختونو کې د خپلو شعرونو یوه ټولګه راولېږله، چې ګویا زه پرې څه ولیکم. زما د ملګري اسد زمري دې کور آباد وي، چې پر ما یې دا پېرزو وکړه چې څه ولیکم، سره له دې چې زه نه خو شاعر یم او نه ماهر. او په شعر به هم دومره ونه پوهېږم خو هڅه به وکړم، د خپلې ملګرتیا یو دَین ادا کړم.

د دې ټولګې شعرونه زیاتره د غزل په فورم کې ویل شوي دي، یوازې څو آزاد نظمونه هم لکه: ځانمرګې، زه او د وطن ژبې او قومونه، د سفر موخه، الیشنګ، لغمان او یو څه نور هم د آزاد شعر په فورم کې دي.

زما د یو استاد په قول چې وایي د شکلا پېژندنې معیارونه په یو حالت کې پښه پرځای نه دي بلکې بدلېږي، که په تېرو وختونو کې قافیه او یا د نورو ژبو لکه عربي لغات دود وو، اوسنی نسل هم د پردیو لغاتو ډېره کوي او هم د قافیې پسې دومره نه ګرځي.

له بلې خوا چې دودیزو اصولو تر ډېره حده د شاعر په تحت‌الشعور کې ځای نیولی او په ناخبره توګه یې کاروي، دا ځکه چې شاعر اړ دی او دا دود هم دی چې د نورو شاعرانو آثار ولولي، او بیا ځانته یو قالب جوړ کړي ـ نو د استاد په قول، غزل داسې یو فورم دی چې نږدې زرکاله یې دوام کړي او تر اوسه هم مینه وال لري. زما په اند دا ځکه چې د غزل فورم د اخلاقو دیني ارشاداتو او په خاصه توګه د عرفاني مضامینو حامل و، او په دې برخه یعني عرفان کې یې ډېره وده کړې ده، خو کله چې د عرفان له دایرې را بهر شوی بیا د عشق او مینې بستر هم و.

په ټولو شعرونو کې د شاعر هڅه او دروني تلاش له ورایه جوتېږي.

د غزل په شعرونو کې زیاتره غزلونه یا اکثره یې د «زه» په نومځري پیل کېږي، چې په ګرامري لحاظ د «زه» کلیمه د لومړي شخص صیغه ده، خو د اروا‌پوهنې له مخې «زه» یعنې «من» یا اید (Id) مانا لري، چې یو ډول ځان مرکزیت جوتوي. که دا خبره په بل ډول پیل کړو ویلی شو چې شاعر خپل کلام له ځانه پیلوي او د ښکلا او طبعیت او پدیدو په لور حرکت کوي. دا خبره د فلسفې له ځینو روایاتو سره هم سر خوري چې باور لري چې ښکلا نه یوازې په بهر کې یا د انسان له وجود څخه بهر شتون لري بلکې د انسان له د ننه هم را برسیره کیږي ـ نو کله نا کله شاعر هم دغه دروني ښکلا له خپلو حواسو او له خپلو عواطفو بهر کوي او د شعر په بڼه یې پنځوي. مثالونه یې:

د ګاونډیان شعر:

خپلو کارونو ته خالقه ډېر حیران دې کړمه
د زرو سوالو ځوابونو ته پریشان دې کړمه
ستا له ښایست، له شهامت او له صفا مننه
چې دې په ما باندې پیرزو کړه او انسان دې کړمه

سره له دې چې د لاندې بېلګې قافیه ډېرو شاعرانو تکرار کړې، خو دلته د یو شعر دا ډول قافیه دوه بیتونه چې د «زه» یا لومړي شخص پکې مطرح دی، را اخلو:

راشه په خیال مې را خپره شه چې غزل ولیکم
د سترګو تور کې مې دېره شه چې غزل ولیکم
صنم صنم څېره دې بیا د زړه معبد کې کېږده
زما مندر زما کعبه شه چې غزل ولیکم

همدا رنګه د یو بل غزل یو بیت:

تا ته جانانه یو ساده غوندې غزل وایم
د تا ښایست ته آینه غوندې غزل وایم

په هر صورت د دې ټولګي ټول او زیاتره شعرونه د غزل په فورم کې دي. سره له دې چې غزل په پښتو شعر کې د روښاني ادب یو عمده ژانر دی او په وروستي دور کې حمزه شینوارای ته د غزل د پلار خطاب شوی دې ـ خو ځینو کسانو لکه راج ولي شاه ختټك په خپله رساله کې د غني خان له خولې لیکي چې غزل په پښتو شاعرۍ کې کم رنګه دی یا د پښتو شاعرۍ له طبعیت سره جوړ نه دی. دا ځکه چې پښتو شاعري د ډهل او اتڼ له آواز سره هم‌غږي لري او د غزل فورم آرام او خوبولي هغه دی. البته دا یو نظر دی.

بله خبره دا ده چې غزل او د قصیدې فورمونه تر زیاته حده د عرفاني او تصوفي افکارو د وړاندې کولو لپاره کارول شوي دي. لکه چې د مخه مو هم ورته اشاره وکړه. میرزا خان انصاري یې لوی سرلاری دی، هسې خو شاعري او عرفان له یوې سرچینې را بهر کېږي، نو ځکه زیاتره شاعران چې صوفیان او عارفان نه دي، هم خو د عارفانو تقلید کوي. خو دلته په دې لیکنه کې به هڅه وکړو لږ څه د شعر په ماهیت او جوهر تم شو او بیا به د زمري صیب شعرونو ته اشارې ولرو.

سره له دې چې موږ د دې شعرونو د نقد په موخه لستوني نه دي بډ وهلي، خو یو څو ټکي به اړین وي چې وواېو: یو نظر دا دی چې شعر او نقد کول سره ډېر نږدیوالي لري. اسکار وایلد پخپله یوه لیکنه کې یادونه کوي چې نقد په خپل ذات کې یو ډول هستونه یا خلاقیت دی. پر دې سربېره له پخوا راهیسې زیاتره شاعران چې ادب یې یوازې هستونه یا تخلیق باله او له نقد سره یې دوښمني کوله، ان تر دې چې له نقد کولو پرته بل هېڅ شی ورته دومره له کړاوه ډک او سردرد جوړوونکی نه و. په واقعیت کې به ډېر لږ داسې

هنرمند پیدا کېدل چې له هر ډول قهر او انتقادي کرکې پرته چې د هغه پر اثر کېږي، نور څه زغم ولري؟

وايي چې دوه تنه مشهور کاردينالان (د عيسوي دين مذهبي مشران) چې د رافايل له نندارتون نه يې ليدنه کوله، هغو يو تن د رافايل د يو اثر په باب وويل چې په دغه اثر کې ولې د حورو مخونه سره دي؟ خو انځورګر په ډېره نرمه لهجه او پسته ژبه چې په ظاهر کې له قهر نه هم خالي نه وه، وويل: «دا کار ما قصداً کړی دی، دا ځکه چې زه داسې فکر نه کوم چې په جنت کې حوري ووينم، ځکه چې کليسا ستاسو په څېر کسانو تر اداري لاندي ده نو د هغو رنګونه به هم له شرمه سره اوړي.»

چخوف روسي ليکوال په مانداره ملنډو وايي: «نقادان لکه غوباړي داسي دي، کله چې د آس په شا کښېني او هغه وچيچي يا نيش ووهي، نو د ځمکې د قلبه کولو خنډ کېږي. آس خپل پوټکي راغونډوي؛ لکۍ خوځوي. نو غوباړی د څه له پاره بنګاری کوي؟ ښايي پخپله به هم ونه پوهېږي خو يوازې ناآرامه طبع لري او د هغه زړه غواړي چې نور هم د هغه حالت احساس کړي.»

مطلب دا چې غواړي ووايي، پوهيږئ؟ زه هم ژوندی يم او پوهېږم چې څرنګه وبنګېږم؟

ځيني شاعران انتقاد د بيوزلو کار بولي. د داسې کسانو کار يې بولي چي خپله هستونه نه شي کولی، نورو ته وښيي.

نن ورځ دا يو روښانه او ډاګيز حقيقت دی چې ارواپوهنه په هنر او خلاقيت کې ژورې ريښې لري. اروا‌پوهنه کولی شي چې د شاعر د نفساني حالت پېژندنه او د هغه د مخاطبانو او مينه والو پېژندنه آسانه کړي. همدا راز اروا‌پوهنه چې د شاعر او هنرمند له شعور او خبرتيا سره اړه لري؛ د هستوونکي عواطف او احساسات او دروني غوښتنې څېړلی شي. په نقد کې

هم زیات اهمیت لري، دا ځکه چې د انسان نفس او روان هغه سرچینه ده، چې ټولې انساني هستونې او ایجادیات له هغه را بهر کېږي.

اوس که خپلې خبرې راټولې کړو، نو وبه وایو چې:

١. د شعر ژبه او د کلماتو غوراوی او د شعری کلام او بدنه یا بلاغت او فصاحت د شعر مهم عنصر دی.
٢. صور او خیال تعابیر کنایات او استعارات او تشبیهات چې د شعر ژبه ترې جوړېږي، نوښت او شاعرانه خلاقیت دویم مهم توکی دی.
٣. د شعر فکري مضمون چې د شعر سمت، رسالت او پیغام روښانوي او د شعر ټولنیز نقش پیاوړی کوي.
٤. د شعر بڼه د فن او تکنیک له پلوه: لکه دا چې آیا شعر عروضي وزن لري یا هجایي بڼه لري. شعر موزون دی یا بېوزنه او د دې مسألې څېړل چې شعر غوره شوي موازین مراعات کړي که نه.
٥. د شعر د تألیف او ترکیب متود: دا چې شعر څنګه پیل کېږي او څرنګه پای ته رسېږي. طول او لنډیز او د برخو تناسب یې څنګه دی.
٦. آیا شعر حماسي دي که غنایي، طنزیه دی، روایي دي، ښوونیز دی، مرثیه ډوله دی. توصیفي دی او که بل څه؟ دا چې آیا شاعر کولی شي چې د شعر د ډول غوښتنې مراعات کړي او یا یې په ښه توګه نه دې ترسره کړې.
٧. د شعر سیاسي او ټولنیزه موضوع او یا دا چې په شعوري او یا غیرشعوري توګه کومو تاریخي ځواکونو په خدمت کې دی او څه رسالت لري، چې البته دا توکي نن ورځ له ننګونې سره مخامخ دی.
٨. د شاعرانه نوښت درجه، تقلید ابداع او نور.

په نوی مدرن یا اروپايي نقد کې مهمه مساله هرمنوتیک هڅه ده، چې څرنګه کلمات او مفاهیم په کې کارېدلي دي، د هرمنوتیک دنده دا ده چې یو مؤلف له هغه څه نه چې ځان پېژني، په ښه توګه وپېژنو. معاصر هرمنوتیک هڅه کوي چې له هنري آثارو نه هغه څه چې غواړي جوړ کړي، نن ورځ ذهني تفسیر دود دی او د مفسر کار د مؤلف له کاره جلا دی.

په شعر کې له مفکورې څخه مطلب دا دی چې هر شعر باید د قضاوت پیغام او حکمت عنصر له ځان سره ولري. که دا خبره سمه وي چې هنر او له هغه جملې شعر یو داسې وسیله ده چې د معرفت لپاره کارول کېږي او د هغه په مرسته انسان او طبعیت له سره پېژني؛ نو په دې صورت کې هر شعر باید د یو کشف، اختراع، قضاوت، تحلیل حکمي وي.

د اسد زمري د شعرونو په دې ټولګه کې هم هڅه شوې ده او ښايي دا اندېښنه به هم ورسره وي، چې د بې‌رحمه نقادانو د چلند خیال وساتي. زیاتره شعرونه یې د دې استازیتوب کوي چې له شاعر سره د جلاوطنۍ نوستالژیا، له خپل چم ګاونډ نه لیري والي دې ته هڅولی، چې خپلې رواني اندېښني په شعر کې څرګندې کړي، خو بیا هم هغه به راسره دا خبره ومني، چې د هغه په شعر کې د نورو شاعرانو اغېز هم شته.

پای

## بغاوت

څو چې د نفرت له سره انګاره، سره ووځو
څه چې د دنیا له وران بازاره، سره ووځو
نرخ د محبت چې جنون، غرونه او سارا شو اوس
څه چې نور له دې لیوني ښاره، سره ووځو
شرنګ ته د بنګړو دې، شور زما له ځنځیرو واخله
لږ چې څه له دې غمجن قراره، سره ووځو
ګل یې ته پخپله «خو خوږ عمر دې د ګل مه شه»
زه او روح به دواړه ستا لپاره، سره ووځو
ته شه سره سکروټه، زه به سوی سپیلنی شمه
دود ته به د مینې مو، په لاره، سره ووځو
ستا نفس سندرې دي، نغمې دي اوسیلې زما
دې راګ ته به مونږه له اختیاره، سره ووځو
کله چې نیشه شو د وصال دجام له میو نه
مست به د قیدونو له مداره، سره ووځو
زه دې ژوبل، ژوبل یم، خو ته دې سلامته یې
جنګ د رواجو ته به دلداره، سره ووځو

را چې د سنګسار حکم جاري کړو نن په دوئ باندې

څو د دې ناولو له اختیاره، سره ووځو

ړوند دې شي رقیب، غماز دې ورک شي له اغیار سره

دې آرزو ته دواړه به ای یاره، سره ووځو

ستا په څنګ کې ښکاري زمری ډیرو ته اغزی اغزی

ګلې! ځه چې مونږ له دې واړه ګلزاره سره، ووځو

*۲۵/۳/۲۰۱۶ ویسبادن*

## غزل

راشه په خیال مې راخپره شه، چې غزل ولیکم
د سترګو تور کې مې دېره شه، چې غزل ولیکم
ښکالو د مينې دې کړه بره بيا د هېلو په باغ
مړاو ګلونو ته وړمه شه، چې غزل ولیکم
صنم صنم خېره دې بيا د زړه معبد کې کيږده
زما مندر، زما کعبه شه، چې غزل ولیکم
د ديدار تږی، د وصال وږی، له ژونده ستړی
ته مې سکون، آرام، اسره شه، چې غزل ولیکم
زما اغزو ته د بهار ګامونه نه تېرېږي
راشه د سرو ګلوغنچه شه چې غزل ولیکم

*۱۶/۴/۲۰۱۰ ويسبادين*

## ارزاني

اور بلیږي هرې خوا نه، د لوګیو ارزاني ده
مرګ له شپږو خواو اوري، د سلګیو ارزاني ده
«هزار چې اوس بې‌شماره» هر ناکس تر سر تاو کړي*
د پکول بازار خو څه کړي؟! د پګړیو ارزاني ده
اندیښنې د ورکیدو دي، د وطن او د ژوند سوال دی
همت ورک شو له افغانه، د پستیو ارزاني ده
نه څه فکر د بدلون شته، نه چاره ترې د خلاصون شته
د فساد مقام مو خپل کړ: د پردیو ارزاني ده
د وحدت نارې دي ډیرې، خو کمې پکې اخلاص دی
د نفاق تنور تودیږي د ټګیو ارزاني ده
نه له جنګه شولو سترې، نه مو سولې ته لار ورکړه
مصیبت په مونږ دیره ده، د مرګیو ارزاني ده
هیڅ تدبیر بدلې نه کړې د افغان د تقدیر کرښې
سوکالۍ پکې ده ګرانه، د بدیو ارزاني ده
چیرته څنګه چاته څه وخت اوښکې تویې کړم زمریه؟
چې وطن کې مې اوس ډیره د سرېیو ارزاني ده

* د خوشحال خټک فرد ته اشاره: «چې دستار تړی هزار دی   د دستار سړي په شمار دی»

## داغلي زړونه

مست وم په نشه کې مې خپل پټ دردونه وسپړل
يو يو مې دلدار ته د خپل عشق رازونه وسپړل
تنده د وصال مې په شرابو ماتيده کله
هسې مې د ډېرو ميکدو خمونه وسپړل
اوښکې مې په مخ نه دي تناکې او پُولۍ دي دا
دا مې د خپل سوي زړه زاړه سوزونه وسپړل
مړه نه دي هغه چې يې سرونه په وطن ايښي
تاسي که د دغو شاه ځلمو قبرونه وسپړل
مات کچکول په غاړه ملا ناست د ټوکرو شکور ته وو
اوس يې په پرديو د وطن کانونه وسپړل
لومه د جهاد لکه زينډۍ شوه د افغان ولس
دلته درد او غم، وير او ماتم وزرونه وسپړل
غوږ د اوريدو يې په جهان کې چيرته نشته دی
مونږ که يو ځل خپل دغه داغلي زړونه وسپړل
دغه کلمې نه دي، حرفونه او جملې نه دي
دا مې د وطن د سوي حال غمونه وسپړل

*۴/۳/۲۰۱۶ ويسبادن*

## هرڅه وسوځیدل

شور مې د ځوانۍ، د چا د مینې تور کې وسوځید

شوق مې د زړښت، هم په وحشت د ګور کې وسوځید

ژوند مې له تیارو سره د جنګ میدان کې ټول تیر کړ

لمر د آرمانونو مې د بل په کور کې وسوځید

سیند ته مې د هیلو، لار د ستر سمندر خلاصه کړه

زوړ ئې د موجونو، د ساحل په زور کې وسوځید

ملا مې که وه کړوپه، خو مې غاړه مدام هسکه وه

څلی د غرور مې، د پردو پیغور کې وسوځید

تږی او نهار وم، خو خوشحاله مې خپل واک ته وم

واک مې، د مرئیانو د ځنځیر په پور کې وسوځید

بخت نه ده، تقدیر نه ده، د خدای له لوري هم نه ده

حال مې په لمبو د بې‌ننګۍ کې، د ورور وسوځید

وسومه، لمبه شومه، سکروټه، سکور، ایرې شومه

تن مې، د زمان د ناکردو په شور کې وسوځید

چانه کړې ګیله زمریه چاته شکایت کوې؟

ټول جهان د چا د خودخواهیو اور کې وسوځید

*۱۲/۸/۲۰۱۶ ویسبادن*

## باغي غوښتنې

له ثوابه دې در تیر یم، د ګناه قوت او زړه را
څو چې هر ښکلي ته نیغ شم، ورته ووایمه خوله را
په مغزو کې راته مړه کړه، له زاهد او ملا ویره
ما ساقي د میکدي کړه، د شرابو یوه ویاله را
جنتي دې مري آرمان کې د جنت او د حورانو
یو اویا ښاپیري ماته، په دا خپل سپیره کاله را
نور مې شونډې شړیدلي، د دې تریخ ژوند په څکلو
د خوږو شونډو زبیښو ته، بله ژبه، بله خوله را
د تقوی په سپین کفن، کې ومه ټول عمر پیچلی
ما له سره تنکی ځوان کړه، او مستي مې راته ته را
پر بالښت او پر مړوند مې خوب لا نه دی ازمایلی
پس لدی خوب د وریښمو په سینه او یا ورانه را
ستا بخشش او رحم څه شو، ستا سخا او اعطا څه شوه؟
د ښایسته و له جهانه ماته ټول سره او ښه را
تنده چا ده ماته کړې څوک، موړ شوې په خوړلو؟
زما وږي تږي نفس ته د خوبانو ټول خواږه را

د وریښمینو غیږو غیږ کې دا یاغي زړه ته تسل را

د زمری سترګو ته خدایه د هوسیو غبرګ لیمه را

۱۶/۹/۲۰۱۶ ویسبادن

## زه او د وطن ژبې او قومونه

یو غمی وي تل تر خاورو لاندې خوار
بې‌بها شي چې ترې جوړ شي ښکلی هار
د وطن خلک هم داسې در قیاس کړئ
چې ګلونه دي د دې ښکلي د ګلزار
په دري د پښتنې مینې خبرې
دي «شکرې په شیدو» کې د نهار
پشه‌یی، نورستاني به څنګه بیل کړئ؟
اولادونه دي د یوې مور او یو پلار
که اُردو له ترنمه مالال ده
ازبکي خوږه نغمه ده د دوتار
د وطن د زړه آواز هزارګي ده
چې تپیږي په یووالي او په زیار
کاشکې څو ګامه وم ای‌خوا زیږیدلی
بلوچي به مې وه مور، ترکمنی پلار
د وطن ژبې مې کاشکې ټولې زده وې
د پردیو ژبو څه دئ افتخار؟

اتحاد او وروروليٖ ته يې لوګی شم

له هر قوم او هر مليته يې شم ځار

دا وګړي هيڅ جابر نه دي بيل کړي

يو يې ملک دی، يو يې ژوند، يو يې روزګار

پرې چې يو شي او ملت ور څخه جوړ شي

مخ کړي تور د هر خاين او هر غدار

*۳/۳/۲۰۱۷ ويسبادن*

## ويده کوربه

په دې کې شک نشته چې ښکلی دي ډېر،
او کوه قاف يې سيالي نه شي کوی؛
نجونې يې ښايسته له ښاپيريو ځنې. ..
ځلميان يې ټول دي د ملوک په شانې،
جنت کې هم داسې ځای نشئ ليدی...
افغانستان يادوم.
خو دا وحشي ديوانو، او دې سل رنګه بلاګانو،
د ښاپيريو له دې ملک نه دی دوزخ جوړ کړی:
کله يو سور د يو پرې پنجې خښې کړي،
او کله توره او يا سپينه بلا. ..
يوه يې اوه سره او زر خولې لري[1]
بله اته سره بيشماره داړې[2]
په وينو تنده ديوې لا ماته شوې نه وي. ..
چې هغه بله، د انسان د غوښو وږې بلا...
د اختاپوت په شانې. ..
اته څلويښت خولې کاندی خښې د افغان په وجود[3]

انسان خو پرېږده چې ترې ژوی هم امان کې نه دي. ..
هر څه که کاڼي دي، فلز او که اوبلنه هستي. ..
ټوله کړي ځاي په خپل ناولي نس کې
هر څه تالا کړي او لګيا دي لوټوي يې پسې. ..
په دې تالان کې يې په زرو رانيولي مريیان. ..
او بې‌ايمانه، د خيانت په دسترخوان لوی شوي،
چې نه وطن لري، نه ننګ او نه ناموس پيژني
دي تل چوپړ ته ولاړ.
خو د ناخوالو او تالان په توفاني غوغا کې
کوربه لا هسې د نيستۍ په درانه خوب ويده دی.

*۱۹/۵/۲۰۱۷ ويسبادن*

[۱] اووه ګونې جهادي ډلې
[۲] اته ګونی جهادي ډلې
[۳] د ۴۸ هيوادونو تيری په افغانستان باندې

## بېوسي

خط او خال د يار ته کتۍ نه شمه

اوس مې ګران نګار ته کتۍ نه شمه

خپلو ته په کومو سترګو وګورم

نيغ چې زه اغيار ته کتۍ نه شمه

زړه مې د کابل په شانته دی خراب

خپل د زړه پرهار ته کتی نه شمه

هجر مې زړه دومره نری کړی دی

اوس يې د کور لار ته کتی نه شمه

اوښکې مې تل ډنډې دي په سترګو کې

نور روان ناتار ته کتی نه شمه

يار چې مې بېلفظه بېوعدي شو اوس

شرم نه ريبار ته کتی نه شمه

زه د تهمتو څپو اخيستی يم

کلي، کور او ښار ته کتی نه شمه

وخته نور نو څه په ما کولای شی

ړوند دې کړم دلدار ته کتی نه شمه

دا زمرى وطن شو د ګيدړ ولجه

خلکه دې روزګار ته کتې نه شمه

*۲۴/۱۰/۲۰۱۷ ويسبادن*

## د افغانستان خلک دموکراتیک (وطن) ګوند د غړو ترانه

د عشق خنجر يې په خوښۍ مونږ په سینو وواهه
نوم د وطن مو له ګرانښته په لیمو وواهه
د تورو شپو زړه کې مو بلې کړې د هیلو ډیوې
تورتم د ظلم مو د عدل په شغلو وواهه
لکه کاوه د ښامارانو جنګ ته ورغلو مونږ
د ضحاک سر مو په قیمت د شاه ځلمو وواهه
د وخت اغزیو باندې تیر شولو په لوڅو پښو
خو سر منزل مو د ځوانۍ په ولولو وواهه
نه د زندان او نه د دار ،نه د نیستۍ اندیښنه
ها زوړ زندان مو د هستۍ په ولولو وواهه
که نمونه د ټینګ ایمان وی نو هغه یو مونږه
د صداقت توغ مو په خپلو هدیرو وواهه
نه مو نفاق، نه مو بدی او نه نفرت ومانه
د جنګ شیطان مو هم د سولې په آرزو وواهه
مینه د خلکو او خدمت د وطن فرض ګڼه مونږ
زورور سوک مو دښمنانو ته په خولو وواهه

سر مو خپل ورکړ خو سنګر مو چاته پرې نه ښوده

هر یو غلیم مو تل د ماتې په نیزو وواهه

خو څو بې‌ننګو، بې‌غیرتو، خاینانو آخر

زمونږ د ویاړ څلی د ماتې په طعنو وواهه

*۳/۱۱/۲۰۱۷ ویسبادن*

## مدیترانه

د ټول مشرق د بربادۍ په بیه،

غرب د جنت په څیر شیرازه دی نن،

خو...

په خپلو ورانو کنډوالو کې مو هم...

یوه شیبه آرام ته نه پرېږدي دوئ؛

د چور، تالان او د یرغل له پاره،

له شیطاني مغزو نه جوړه کاندي ؛

کله یوه او کله بله پلمه...

او د مرګیو باران جوړ کړي په مونږ.

ځمکه سور اور کړي را ته او هوا ټوله لمبه. ..

پرته له تیښتې بله لار نه لرو. ..

له ناچارۍ نه مخه وکړو دوئ ته...

خپل دې خوني دښمن ته!

څوک مو د سویو دښتو جل ووهي،

څوک مو یخني کنګل کړي،

ډیرمو خوراک د سمندر ماهي کړي

نو ځکه!

د دوئ خوني او تور سمندر. ..

مديترانه يادوم

د وينو بوي ورکوي

*۱۸ /۸/۲۰۱۸ کاستل سپليت - کرواتين*

**خدایه**

په ژوندون خو مې پوره دا یو آرمان کړه
سوله راکړه، یوځل بیا مې تیر افغان کړه
په ناکړې ګناه سوځم په دوزخ کې
لږ دې سمه، دا ډنډۍ د خپل میزان کړه
د جهاد او دین مزه زمونږه بس ده
لږ پرې ښاد ته خپل منلي عربان کړه
نه چې مرګ دې دی یو مونږ ته پیدا کړی؟!
ځه خويي هم په ګاونډیو امتحان کړه
هر نادوده کې نعره الله اکبر کړي
د نمرود په څیر دې غرق واړه خدایان کړه
پیغمبره پرې چې خدای مې سزا راکړي
ته دې لرې دا ماران او لړمان کړه
د توپکو شپیلۍ جوړ په مونږ محشر کړ
اسرافیله ته دې هم صور په فغان کړه
نور نه صبر مونږ ته پاتې شو نه عقل
زړه دې یخ کړه او له مخې موتوپان کړه

*۱۶/۱/۲۰۱۷ ویسبادن*

## بدمرغه ملت

چې د تسبو په شان د خپل ځنځير دانې شرنګوي

د بل په لاس وراچولې زولنې شرنګوي

د غلامۍ ژوند کې دی پاتې له سيالۍ د سيالو

خپلو کې وژني خو پردو سره پيالې شرنګوي

د عجم نوم يې کړ ورپورې او ګونګي يې کړل ټول

ځکه د ژبې پر ځای يو بل ته نيزې شرنګوي

دی له قلم سره دښمن او له کتابه بيزار

ځکه توپک ګرځوي، تورې او برچې شرنګوي

د يوه مست اتڼ نغمه ورته پردۍ ښکاريږي

د جاز او پاپ ساز ته هم سر او هم پښې شرنګوی

د روغې جوړې او د سولې دښمنان دې واړه

د جنګ، جګړې او د نفرت ډيرې نغمې شرنګوي

بې ګناهان يې د دوزخ په سرو لمبو کې سوځي

ګناهکاران يې د کوثرو پيمانې شرنګوي

ملا د کفر ټاپه ايښې ده هر چاته خواکې

روشنفکران يې د نفرت او جنګ فتنې شرنګوي

ځینو یې خرڅ کړ ځان، ایمان او هم ناموس د وطن
جیب کې ډالر ګرځوي، موټي کې پیسې شرنګوي
هغوئ چې وغواړي بدل کړي ځان بدلیږي یې ژوند
دی د تاریخ په نوم د زوړ قبر جنډې شرنګوي

*۲۸/۹/۲۰۱۷ ویسبادن*

## ښکیل شوی زړه

چې نقشه یې د ښکیل شوی زړه په شان ده
نو بهیرې پکې څکه مدام وینې
د افغان وطن دی هر یوه وران کړی
که له ښې خوا ده راغلی یا له کینې

*۲۴/۱۰/۲۰۱۷ ویسبادن*

## غزل

مخې ته مې راشي، مخ دلبر را څخه واړوي
شونډو لاندې موسکه شي، نظر را څخه واړوي
زه يې لا له ليرې نه، د قد ښکلا ته محوه يم
دا له روپو ډک، ښکلی ټټر را څخه واړوي
سر کې مې کړم جوړې، څو جملې اظهار د مينې ته
خاورې را په سر کړي، او خپل سر را څخه واړوي
شپه او ورځ مې تيره، مازيګر ته انتظار کې کړم
خپل مخ په ګودر کې، لکه لمر را څخه واړوي
ځار يې شم له خپلو او لوګی له کور او کلي نه
مخ د هر يوه، د غم لښکر را څخه واړوي
هجر مې د اور لمبو ته، ټول بدن نيولی دی
وصل د جانان، که دا شرر را څخه واړوي
دا ښکلا او ناز، دغه خرام او دا عشوی د يار
هوش را څخه يوسي، او هنر را څخه واړوي
مينه به زما خپلې ښکلا ته سياله نه ګڼي؟!
مخ مدام په شان د مرور را څخه واړوي

بیا د غنم رنګو په هر ناز باندې مین شمه

کله چې غربیانې سپین بشر را څخه واړوي

*۸/۹/۲۰۱۶ ویسبادن*

## څه لټوم

هیرو یادو کې سرګردانه یم او تا لټوم

ښکلی آرمان، سپیڅلې مینه او وفا لټوم

ته مې معبد وی، ته معبود او ته مې دین او ایمان

خپل ستر جهان ته مې بیا هسې ستر مولا لټوم

د خپلې مینې په مقیاس هسې بې‌مثله ښکلا

څمکه، اسمان ورپسې ګورمه دنیا لټوم

زه په ستم، تعدا، جفا او په نازو کې دیار

حیا، ادا ګورمه، مینه او ښکلا لټوم

د عاشقانو د ژوندون نخښه وی سوړ اسویلي

د ځان ګرمۍ ته توده غیږه د لیلا لټوم

د ژوندانه په دې بې‌پیله، بې‌پایانه بن کې

زه مې جانان ته په ګلونو کې همتا لټوم

ځینې د وخت په تربړمو کې له خپل ځانه شول ورک

ور ته د ځان او لار موندلو څه رڼا لټوم

*۶/۹/۲۰۱۶ ویسبادن*

**داعش او ملګری**

سوی مازیګر یم د غمونو جل وهلی یم
اور مې په سر بل دی د غربت غرمو داغلی یم
وریت د عزیزانو د مرګونو په بټیو کې
زه یو ژوندی مړی د اجل بلا خوړلی یم
اوښکې مې سکروټې، اوسیلي مې دي لوګي د زړه
سر تر پایه سوز یم، خپلو هیلو سوځولی یم
زه د ناچاریو په لمبو کې لولپه شومه
ژوند مې تالا شوی زه یې کلي نه شړلی یم
زه ولاړ د وخت خوړلن کې، لاره د سبا څارم
ویر کې د ماضي مې نور سکاره او ایرې شوی یم
شنې لوخړې خیرې هم له ما هم له وطنه مې
زه داعش، اشرار او طالب یو شان کړولی یم

*۸/۸/۲۰۱۶ ویسبادن*

## چا؟؟؟

مات يې راته جام کړ، او نسکوره پيمانه زمونږ
سټري شول ياران چې شوه خرابه ميخانه زمونږ
چا مو په شرابو کې رانجه په چل ګډ کړي وو؟
نشته عربدې، شور او هم چيغې مستانه زمونږ
چا زمونږ ساقي ته د تعميد د غسل ډنډ وښود؟
لاړه محتسب شو هيره يې کړله يارانه زمونږ
تيت که مو ياران د پيمانې وو غونډ به ول آخر
څنګه د نيستۍ کندې ته لاړه قافله زمونږ!
مست د وطن مينه کې مو شور ان تر اسمانه ته
چا مو خوله کې وچه کړله مسته ترانه زمونږ؟
څوک ده چې مو اور د سوځيدلو ته لمن وهي
چا مو زړو کې مړه کړه د سپيڅلي اور لمبه زمونږ؟
شنه خوله په نصوارو، ملا چا په ميو راوسته؟
چا شيطان ته بيرته کړه د بزم دروازه زمونږ؟
ګډ دی شي مرګی ورته په کور، کهول او قوم باندې
چا چې کړه پيدا دغو نومونو ته کينه زمونږ

۶/۸/۲۰۱۶ ويسبادن

## اکسیر

آرام به څنګه را شي، چې شوګیر مې سر ته ایښې
د یار د بې‌غوریو لوی تصویر مې سرته ایښې
د خوب په لټه سترګې غړومه په هر لوري
د ډیرو تلوسو تړی تدبیر مې سرته ایښې
له خیاله شم قربان چې کله کله راته وایي:
«ویده یم او د زلفو تور ځنځیر مې سرته ایښې»
که خاورې په سر باد کړم ستا له لاسه، راته زر شي
چې ستا د پاکې مینې ستر اکسیر مې سرته ایښې
معراج د بیخودۍ ته ستا خمارو سترګو یوړم
د تا د مست نظر ښکلی تاثیر مې سرته ایښې
قربان له هغه ځایه شم، وارۍ له هغه وخته
چې پروت دې یمه خواکې، غم او ویر مې سرته ایښې
یوه وړه جونګړه په دنیا د محبت کې
د واړو جنتو، نوی تعبیر مې سرته ایښې
زمری ځان ته ویل او بیا طعمه د یوې هوسۍ؟
د ښکلو دې کمال ته خپل تقدیر مې سرته ایښې

*۴/۸/۲۰۱۶ ویسبادن*

## الیشنګ

چې د اسمان ستوري شي ټول د کهکشان په غيږ کې

چې مرغلرې واوريږي د دامان په غيږ کې

چې له جلوو او له رنګو نه توفانونه شی جوړ

چې یاسمن شی په مستۍ د ګلستان په غيږ کې

هسې بهیږي الیشنګ د شنه لغمان په غيږ کې

چې د کرنج ممانۍ وزانګي د غرونو په ټال

چې د سالاو ښکلا شي غبرګه د ګلونو په ټال

چې د وایګل نخرې شي برې د فردوس سیالۍ کې

چې د جهان پسرلی شي غونډ دیو افغان په غيږ کې

هسې بهیږي الیشنګ د شنه لغمان په غيږ کې

چې د سنګر ناره شی غبرګه د جهان سینې ته

چې د کاوون غاړه شی جګه د اسمان سینې ته

د ګُنج ښامار چې مخه وکړي د دامان سینې ته

لکه جرس چې په غوغا وی د کاروان په غيږ کې

هسی بهیږي الیشنګ د شنه لغمان په غيږ کې

له دولتشاه نه چې وړمه د ورور ولۍ شی جګه

له مندراوړ نه چې جرګه د خپلولۍ شي جګه

له نورلامه چې نعره د تلولۍ شي جګه

غیرتي زړه چې په مستۍ وی د یو ځوان په غیږکې

هسې بهیږي الیشنګ د شنه لغمان په غیږ کې

د ملګرتیا بزم چې یې مخ ته الینګار جوړ کړي

نو د الماسو له دانو، لغمان ته هار جوړ کړي

د ګلو فرش چې یې راتلو ته ننګرهار جوړ کړي

لکه بریښنا چې وځلیږي د باران په غیږ کې

هسې بهیږي الیشنګ د شنه لغمان په غیږ کې

چې له کابل سره شریک خپل مست موجونه کاندي

نو درست هیواد کې بیا راویښ ټول ولسونه کاندي

له ستر کونړ سره اوږه ورکړي او ځي «آبا» ته

د لوی افغان بیرغ اوچت کړي د جهان په غیږ کې

هسې بهیږي الیشنګ د شنه لغمان په غیږ کې

دسمبر۲۰۰۶

*د بي‌بي رخشانی په ویر کې چې د تاریخ د وحشیانو په اراده او د بې‌ننګو او بې‌غیرتو خلکو په واسطه په بادغیس کې سنګساره شوه. د هغې ستر روح دې ښاد وی او لعنت او نفرین دې وي په بې‌احساسه قاتلانو او بې‌کفایته واکمنانو*

**رخشانه**

بیا د «سیس»[۱] له سترګو څاڅي د غیرت د اور بڅري

«حجاز» بیا یو ځل تازه کړل د افغان د کور بڅري

بیا« کروړ»[۲] اتل لګیا دی په ژړا او په کوکارو

چې د غور د غرونو پت او عزت پریوته په خاورو

لعنتونه دي چې اوري، پیغورونه دي چې اوري

د غوریانو تخت لرزیږي، بیا ننګونه دي چې اوري

له خجلته جام[۳] نسکور شو، فیروزکوه ټوټې ټوټې شو

سرېتوب له شرمه وسو، نارینتوب ذرې ذرې شو

د «ملوکو»[٤] مۍ چا دی نن ترشا پورې ترلي؟
چې دیوانو بدری ګانې دي په ملا پورې ترلي

لا سلګی د « ناهید»[٥] نه دی د قاتل ستونی نیولی
لا د خویندو آزار نه دی د جاهل ستونی نیولی

لا د پریکو سینو وینې د جلاد له ګوتو څاڅي
زر نادودی د تاریخ لا، د جهاد له ګوتو څاڅي

لا فریاد د « فرخندی»[٦] مړ د وطن کوڅو کې نه دی
لا د ساندو غږ یې غلی د جهان غوږو کې نه دی

چې د وینو په ګرداب کې یو انسان په وینو غرق شو
د وحشت په شبستان کې زوړ ایمان په وینو غرق شو

«رخشانه» یې کینولې نن د مرګ کنده کې بیا ده
ښکلې پاکه ناوکۍ نه، را چارپېر توره بلا ده

بیا را ټول څو څناور دي، انسانيت په کاڼو ولي
بې‌غيرته ورته ګوري، بل يې پټ په کاڼو ولي

څنګه ړوند نه شوې ای وروره چې دې خور شوه بې‌عزته؟!
مردار سترګيه، زبون خويه، بې‌همته، بې‌غيرته!

وروره تا د پاکې خور واک، د پردو په لاس کې ورکړ !
پلاره تا د ګرانې لور ژوند، د څو سپو په لاس کې ورکړ!

د وريرې پوړنی ولې ای اکا، تا داسې سپک کړ؟!
ای ماما! تا د ماما نوم په سکوت باندې خپل ورک کړ

قوم، ټبر خپل او خپلوانو تاسي ځان ته څه نوم غواړې؟!
ځان وژلو ته په کومه خوله، اوس ځان ته زقوم غواړې؟!

د غيرت او د عزت نه ګاونډيو څه خبر ياست؟!
څنګه غلي وی هغه وخت، ولې اوس هم کور او کر ياست؟

تاسی ځان نارینه بولی لا شمله به نیغوئ هم؟!
ردې ردې به لا ګورئ لا به سترګې غړوئ هم؟!

د دې ملک ټول واکدارن خو چې په خپله دي خرڅ شوي
له مرئیو به څه ګیله وي؟! څو څو ځله دي خرڅ شوي

خو ولسه، زما تنه، زما هډ او زما ځانه !
دا ګیله نه ده پیغور ده، دا طعنه ده زما ګرانه:

نور نو خلاصی دې کړه سترګې لږ دې وښوره مټې
دا د ټیټو سترګو ګټه، تاوان ښه دی له دې ګټې

دغه سپین لیوان نور ورک کړه خپل ناموس او نوم خوندي کړه
د پردیو دا خړ وړي د تاریخ جیل کې بندي کړه

د اولاد او کهول واک دې، له دې سپیو ځینې واخله
د خپل کور او د خپل کلي، غچ پردیو ځینې واخله

دا به څو پورې سنګسار وي دا به څومره انتحار وي

چور تالا به مو عزت وي او وطن به داسې خوار وی

۴/۱۱/۲۰۱۵

---

[۱] استاد سیس بادغیسی د ۷۶۸ م کلونو په شاوخوا کې دپردیو په مقابل کې د مقاومت سردار

[۲] امیر کروړ

[۳] د جم منار

[٤] د سیف الملوک او بدری جمالی د مینی ولسی داستان ته اشاره

[٥] ناهید هغه پیغله چی د جهادیانو د واکمنۍ په پیل کی یی د خپل پت د ساتلو لپاره و دمکروریانو د جگ پوړ نه ځان و غورځاوه.

[٦] فرخنده هغه پیغله چی د وحشی انسان صورتو له خوا په ډیره بې‌رحمۍ د کابل په زړه کی د بی‌کفایته او مزدور دولت تر ږیری لاندی شکنجه شوه، مړی یی و سوځول شو. اویو بل تور داغ یې پریښود

## د شعر ليکلو وخت

چې کله سترې شم له غمه، نو بيا شعر ليکمه

يا چې جلا شم له همدمه، نو بيا شعر ليکمه

چې مې د اوښکو سيلاب مړې نه کړي د زړه سکروټې

چې له ژړا نه شم بېدمه، نو بيا شعر ليکمه

چې ناچارۍ او بېوسۍ د انسان ووينمه

چې ګيله من شم له ادمه، نو بيا شعر ليکمه

د ظلم لاس چې ماتوي د مظلومانو اورمېږ

په زړه زخمي شم له آلمه، نو بيا شعر ليکمه

چې د زخمي زړونو فرياد مې په ځان اور پورې کړي

چې بينوا شم له ملهمه، نو بيا شعر ليکمه

چې د افغان په حال لاهم دا جهان نه رحميږي

چې زړه مې سوړ شي له عالمه، نو بيا شعر ليکمه

تل ويني ژاړم د افغان ولس په سوی حالت

چې لږ څه خلاص شم له ماتمه، نو بيا شعر ليکمه

يوازې نه چې د بديو او د غم په وخت کې

چې مې پيدا شي د ښو طمعه، نو بيا شعر ليکمه

یم لیونی زه د ښکلا او ښایسته و خلکو

چې را په زړه مې‌شي صنمه، نو بیا شعر لیکمه

*۲۰۱۵ /۱۲/۱۰ ویسبادن*

## سقوط

زه لکه اوښکه د ژوندون په اننګو پریوتم

د سترګو سر نه لاړم ښکته په پښو پریوتم

په ډاډ د مینې مې ډغرې وې اسمانه سره

د جفا اور چې کړم ستې نو په ایرو پریوتم

زخمی سر تیری یم د ننګ داغ مې په نوم نښتی

تدبیر کړم مات او د تقدیر په زولنو پریوتم

د سړیتوب په لټه واوښتم دیوانو باندې

په څه وحشیانو، څه بې رحمو او څه غلو پریوتم!

زمونږ اسمان کې یو تت ستوری هم اوس نه ښکاریږي

په خونړیو، ویرونکو تورو شپو پریوتم

د انتظار ډیوه هم نوره په سلګو شوه راته

په بې‌امیده، بې‌پایانه شان کلو پریوتم

*۹/ ۱۰/ ۲۰۱۵ تاونوس شتاین*

## غزل

جل وهلی د جفا یم، له وفا مړیږم نه

وږی تږی د دیدن یم، چې له تا مړیږم نه

ما د کرکې له جهانه ټول وراسته برجونه مات کړل

له تیارو نه یم بیزاره، له رڼا مړیږم نه

د زړښت له ناچاریو، د زمان له بدمرغیو

په دا تتوتتو سترګو، له ښکلا مړیږم نه

د جهان پله ده سپکه، له جانان سره په تله

ځکه هیڅ یې زه د حسن، په ثنا مړیږم نه

په اغزیو پرښو، کاڼو او په غرو باندی زړه مښم

د جنون له دې ملګرو او سارا مړیږم نه

په شوخۍ د مستو سترګو که یې زړه وړی له ماوو

په نشه کې یې د مینې، په حیا مړیږم نه

لټوم نوی مضمون تل، د غزلو رنګینۍ ته

خو تکرار کې د نامه می، د سوما مړیږم نه

*۱۵ /۷/ ۲۰۱۵ ویسبادن*

## زه

زه د تورتمونو په جهان کې زیږیدلی یم
زه د حادثاتو په توفان کې زیږیدلی یم
ما ډیرې لیدلي د ژوندون لوړې - ژورې دي
زه د نفرتونو په طغیان کې زیږیدلي یم
***
ما مې په زانګو کې هم قرار او آرام ونه لید
ما مې په ځوانۍ کې د ګلرخو خرام ونه لید
سترګې مې تړلې د زخمی احساس پټیو وی
شپې وم ایثار کړی، ما سحر او ماښام ونه لید
***
زه د معرکو په ګرمه ځمکه کې را لوی شومه
نه چا ته تربور، نه د چا ورور او نه هم زوی شومه
ما مې ځان پخپله په کفن کې خپل پیچلی دی
نه شنیلی، نه بوټی نه د سرو ګلونو بوی شومه
***
زه نه هزاره، او نه پښتون او نه تاجیک شومه
نه د تعصب او امتیاز په تله سپک شومه

دین مې انسانیت و، مذهب مینه او وطن قبله
نه شومه سنی، شیعه، هندو او نه هم سیک شومه
***
زه د مصیبت او بدمرغیو د تیر نخښه وم
زه د کړاونو د سیلیو د تیر نخښه وم
ما مې عمر ټول د سرېتوب لاره کې تیر کړی دی
زه د شوم نیتو، ناسرېیو د تیر نخښه وم
***
لاره مې اغزیو او له پرښو نه پوښلې وه
هیله مې رڼو اوښکو ګوګل ځنې تو ږلې وه
زه لکه یتیم هر یو وهلی یم، شړلې یم
هڅه د ژوندون مې لکه ما هم نامنلې وه
***
نه مې څه خوړلي، نه لیدلي، نه څکلي دي
نه مې څوک رټلي، نه وهلي نه وژلي دي
خو زه د ناکسانو، ظالمانو ګناهکار یمه
ځکه چې مې بدو ته په بدو تل کتلي دي
***

اوس په منډه منډه د ژرښت په لور روان یمه
سترې له خپل ځانه، له دنیا ځنې ستومان یمه
نه چیرته دمه شوم، نه هوسا کوم ځای کې کښیناستم
خو نه مې په راتګ او اوسیدلو پښیمان یمه

*۱۴/۴/۲۰۱۵ ویسبادن*

## خوښي

د هستۍ په ټول کتاب کې خوښي نشته
که زما د ژوندهیڅ باب کې خوښي نشته؟
چې پیدا شومه، غمونو ځان کې ډوب کړم
دې خونې، ژور ګرداب کې خوښي نشته
وصال هم د بیلتانه سکنی ورور دی
په قبول او په ایجاب کې خوښي نشته
چې دې سترګې شي صدف، دردانې اوښکې
د رڼو اوښکو دریاب کې خوښي نشته
چې غمونه یې غمو نه نه ویریږي
د هغه ولس په باب کې خوښي نشته
که په ټول عالم باران د خوښۍ وشي
خو زمونږه په حساب کې خوښي نشته
د جنت په شوق مو ژوند دوزخ کې تیر کړ
د نیستۍ په دې سراب کې خوښې نشته
ځۍ ترخو میو ته وسپارئ غمونه
د زاهد خواږه ثواب کې خوښي نشته

*۲۰/۵/۲۰۱۴ ویسبادن*

## د ماتم څادر

هلته بلوي چې خلک يوازې په قبرو ډيوې
هلته لګوی چې د پردو په زيارتو ډيوې
هلته چې خوشحال لکه ړانده په تروږمۍ کې دي
هلته چې مړې کيږي په نفرت کې د کورو ډيوې
***
هلته خر مُهره چې له ګوهر سره سيالي کوی
هلته چې ټپوس هم له ګربت سره مستي کوی
هلته چې ګلاب د ګنډيري په تول خرڅ شوی دی
هلته چې زمري د يو ګيدړ غوږه مالي کوي
***
هلته چې وږمو او په نغمو باندې بنديز وی تل
هلته چې حرام د ښاپيرو نجونو مکيز وی تل
هلته چې مکروه وی په ګلشن کې د بلبلو شور
هلته چې ترلی حسن او عشق په مهميز وی تل
***

هلته چې جلاد د پرښتو جامه اغوستې ده
هلته چی هرځیز د ورکیدو جامه اغوستې ده
هلته چې دي جگې د ماتم اوساندو کریکې تل
هلته چې هر یو گور ته د تلوجامه اغوستې ده
***
هلته چې د لمر له پلوشو سره دښمن دي ټول
هلته چې ناولي او اوباش خلک پتمن دي ټول
هلته چې «دشپی څادر»* خپور شوی اودي تت هر څه
هلته چې د سرسړي ښخ شوي په خوړلن دي ټول
***
هلته چې هر ږغ ته لکه غرونه بندیزونه شته
هلته چې هر یون ته زر گواښونه، او جیلونه شته
هلته چې رباب خپلې مرۍ نه زیندی شوی دی
هلته چې طوطیانو ته په هر گام کې دامونه شته
***
هلته چې وحشت په ولسونو حکومت کوي
هلته چې نفرت په ډیرو زړونو حکومت کوي

---

* د امریکا بیرغ

هلته چې له ډير ککريو نه بويونه ځي

هلته جهالت چې په سرونو حکومت کوي

***

هلته چې وژل او ژوبله ډيرو ته عادت شوی

هلته چې شيطان حاکم د ډيرو په فطرت شوی

هلته چې انسان ژوندی تر خاورو لاندی شوی دی

هلته چې د مړو نڅا هم ځينو ته لذت شوی

***

هلته هر انسان د فرخندي په شانته ځان ګڼي

هلته چې دُره، رجم، سنګسار ځيني ايمان ګڼي

هلته چې هر ټي د ملا ډيرو ته روزي ښکاري

هلته چې له کاڼو ځنې سپک بعضې انسان ګڼي

***

هغه د افغان د ځوربډلي ولس کور دی اوس

هغه چې د هر ژوندي احساس لپاره ګور دی اوس

هغه چې لړلی او لت پت دی خپلو وينو کې

هغه چې په ويرناست پکې هر پلار او هر ورور دی اوس

***

کله به له دغې مېنې بيا دا تور څادر شي ټول

کله به له مونږه د ماتم دغه ټغر شي ټول

کله به جلوو ته د زاړه برم بيا وخاندو

کله به وطن نه د پرديو دا لښکر شی ټول

*۱۸ /۱۱/۲۰۱۲ ويسبادن*

## ګاونډیان

خپلو کارونو ته خالقه ډیر حیران دې کړمه

د زړو سوالو ځوابونو ته پریشان دې کړمه

ستا له ښایست، له شهامت او له صفا مننه

چې دې په ما باندې پیرزو کړه او انسان دې کړمه

له خپل جنت نه دې یوه ښکلې ټوټه بیله کړله

زما ټاټوبی دې کړ هغه او افغان دې کړمه

تا د غیرت د نورو برخه هم زما نصیب کړه

د ننګ ټوټه، د پت څښتن د غرور کان دې کړمه

دا دوه پیړۍ شوې چې یې نه شمه ځواب موندلی

نا چار، مجبور، حیران، محتاج او په خپل ځان دې کړمه

دومره سیالانو کې دې را کړل ګاوندیان ناولي

په خپلو ښو او تیرو راکړو پښیمان دې کړمه

زما خوښۍ او خنداګانې دې هم ورکړې بل ته

د ماتم تاج مې دې په سر د غم سلطان دې کړمه

دمرګ لښکرو اړولي دي کلونه دلته

د زوی او ورور، پلار او اولاد په مرګ بریان دې کړمه

## مرورآشنا

لکه اوښکه چې خفه شي له ژړا نه
یا چې ببیله خو شحالۍ شي له خندا نه
یا چې وتښتي له اور ځنې تودو ښه
لکه بیل چې شې څراغ خپلې رڼا نه
یا چې مات شې د مرغه دواړه وزرونه
یا چې ژبه د چا پاتې شې وینا نه
یا سړی چې بېخواخوږی شي په غم کې
ناهیلی چې شي په سخته کې دنیا نه
یا چې ورکه له ځروبي نه غوغا شي
یا چې څوک کاندي جلا جنون سارا نه
یا چې شا ورکړي پتنګ بلې ډیوې ته
یا بیزار چې شي ګلونه له بورا نه
یا چې مینه له انسانه کډه وکړي
هسې شعر مرور ګرځي له مانه
ځکه خوند مې د ژوند شپو ورځو کې نه شته
چې بیل شوی یم د بدی ورځ آشنا نه

*۷/۱۰/۲۰۰۸ ویسبادن*

## پښتو

د هسکو غرونو، ایلبندونو، سردرو ژبه ده
دا د ګوربتو، د عنقا او د زمرو ژبه ده
دې سره غبرګې وي نغمې د پسرلیو مدام
دا د ځروبو، بلبلانو او شپنو ژبه ده
دې کې خبرې کول، دي د مرغلرو پيیل
ځکه له سُر او لَی نه ډکه، د نغمو ژبه ده
له دغدغو نه ده خالي، خو له خلوصه ډکه
د بزم او رزم، د سلا او د جرګو ژبه ده
میدان يې وړی له همزولو نه په نره دې تل
د زړورو، توریالیو میړنو ژبه ده
بده يې مه ګڼۍ، له بدو سره کار نه لري
د پخلاینې، ګذشتونو او پیرزو ژبه ده
چې وي پخپله خوار، نو هغو ته به خواره ښکاري
دا د ښاغلو افغانانو، د درنو ژبه ده
تل دې ځلانده، تل ژوندۍ او تل دې ښاده اوسي
د سوو زړونو په احوال د خبریدو ژبه ده

د روانۍ او بډايۍ همتا يې نشته چېرته
لکه د تاج غمی، منلې د پښتو ژبه ده

۱۴/۲/۲۰۰۷

## د لمر غمیزه

د ګران وطن د تورو تورو دنګو غرو له شانه،

د شنه اسمان په مورګو؛

د لمر ځلانده ټیکلی وه راختلی څه جګ،

د رڼايي او رنګینۍ په پلوشو باندې يې. ..

لار پرانیستله ورځ ته.

او د تنکیو هیلو شین بزغلی،

د لوړو، سترو آرمانونو چمن،

د غوړېدو د دوران تاندې غوټۍ،

هوسیدلې، غوړېدې او خندیدلې ورته.

ده د سرکش او یو مغرور ښکلي جانان په شانې،

د تغافل په ګوتو. ..

د هر یو زړه تخنوه.

په ناز روان وو چې د مینې د اسمان دعرش په تخت وخیږي. ..

***

لا د غرمې مزل يې نه وو پوره،

چې د تیارو لښکرو...

له خړو وریځو، توفانونو او سیلیو سره،
په غړمبا سر شوې او یرغل یې وروړ...
ټولو تنکیو هیلو...
د آرمانونو د چمن او غوړیدلو د دوران غوټیو. ..
د لمر لپاره خپلې وینې ورکړې او ځار یې کړل سرونه ؛
ځینو «هغو» چې به یې د لمر مخکې سجدې کولې،
شول د تیارې غلامان،
او لمر نه یې مخ واړوه،
«هغو» ځانونه په رڼا ورځ کې ویده واچول. ..
«هغو» پرې ننګ ونه کړ...
«هغو» غیرت خپل کړ هیر. ..
ستورو، سپوږمۍ او څراغونو هم ځانونه کړل پټ.
لمر شو ټپي او شو یوازی پاتې
چا یې زخمونو ته پټۍ رانه وړې،
هیلې، ارمان او غوټۍ
شوې ځوانیمرګي او له خواره بخته
تیارې را برې شوې او شپې شوې خپرې
او د لمر ملک باندې یې

د مرګ، او ویر. ..

غم اوغربت...

چور او وحشت...

یاغي محشرراوسته.

**اوس**

مرګ راوریږي هرې خوانه او ړانده خفاشان وینې زبیښي.

ټول اوس له ډیرې ژړا...

په عزیزانو د ماتم او د قبرو په تل کې،

ټول د تیارو له ظلمه...

د جهالت د حکومت...

او دزړو او خوساشوو ککریو د وحشت له لاسه. ..

ړانده یا مړه ښکاریږي

***

خو لمر، هماغه زخمی شوی، ژوبل، ژوبل اتل...

تورو تیارو سره له جنګه لا ستومانه نه دی،

هره ورځ دانګي د تیارو پر مورچلونو باندې. ..

شفق یې سور په وینو...

باختر یې ډوب په وینو...

او د اسمان لمنه یې سره وی په سپیڅلو وینو...

***

ای د وطن د سوکالۍ په ولولو مینو،
ای د رڼا په ښکلا ګانو او جلوو مینو،
د پتنګانو ورونو، ای په سرو لمبو میینو،
ای د اسمان د عظمت او پروازو میینو،
ای شاهځلمو او ای د لمر په پلوشو میینو،
دا زخمی لمر او دا زمونږ خوږ وطن...
ډیر دی یوازی پاتې،
تپونه یې ډیر دي ژور،
او له مرګي سره دی لاس په ګریوان ؛
که پرې لږ ننګ و نه کړئ،
که یې شغلو سره ملګري نه شئ،
که یې یرغل ته مخه خلاصه نه کړئ،
تل به په دې تورو تیارو کې زنداني پاتي شئ!
او د جنګ په سره اور کې به لا وراته شئ!
یا به د خاورو د چنجیو په شان،
په دې بوینه او نمجنه شپه کې...
بې‌حرکته، بی‌فایدې او عبث،
د ژوندپه نوم ننګینې شپې تیروئ

*۲۵/۲/۲۰۱۶ ویسبادن*

## رسیدل

زړه خو مې غواړي چې زه هر هر چا ته ورسیږم

یتیم، مظلوم، مجبور او بینوا ته ورسیږم

د مصیبت توفان په مخه دي اخیستي هر څه

په دې ستومانه هوډ به کومې خواته ورسیږم

غم او حسرت، ظلم او دردونه را چارپېر دي رانه

زه یو به څنګه هر یوې بلا ته ورسیږم

هره خوا جګ دي فریادونه، اوسیلي او څګېروي

مخلوق یو- دوه نه دي نو زر، زه چا ته ورسیږم

ملا، له خپلې بریرې ایښي د عقبا دامونه

څنګه په دې لومو کې زه دنیا ته ورسیږم؟!

تیارې د جهل او جهاد دي په وطن را خپرې

دې اوږدو شپو کې به آخر ژړا ته ورسیږم

مله مې شول غله، کاروان ستومانه او څاروان لارورکی

خدازده که زه د سرمنزل قلا ته ورسیږم

نن د پرون په ویر کې اوښکې د حسرت تویوم

چې به لا کله د ارمان سبا ته ورسیږم

زه به ترې دا د، د دغو ټولو ناکردو وغواړم

کله چې زه د دې نړۍ مولا ته ورسيږم

ژوند مې د دغه يو ارمان په اميد شپې تيروي:

لمر به شي جګ او زه به بيا رڼا ته ورسيږم

*ویسبادن ۱۵/۱/۲۰۱۶*

## ليدل

راشه رانجه مې شه د سترګو چې دنيا ووينم
ځان او ماحول خپل او تر ټولو مخکې تا ووينم
سترګې لرمه خو ليدل بيا تر ليدو پورې وي
هغه ورځ ړوند ګڼمه ځان چې کوم ملا ووينم
شيخ د ريا په عبادت کې شپه رڼه تيروي
همدې تيارو کې يې لار ورکې او رسوا ووينم
چې په او بو کړي سترګې خلاصې نو شګون يې ښه وي
څه به وي هغه ورځ، سحرکې چې مينا ووينم؟!
که د غماز او د رقيب سترګې حيا نه لري
مين شم بيا په تا چې کله دې حيا ووينم
ارمان مې دادی له سحره تر سحره پورې
د تا په غيږ کې رڼه سترګه د سبا ووينم
دې سترګورې، دې غوږ بوڅې او لولۍ دنيا کې
محبوبه ښه ده چې يې پټه له هر چا ووينم
تمام وجود دې کړه زمريه هله سترګه، سترګه
چې مې يو ځل مور د خوږې مينې مولا ووينم

*۲۰۱۵/۵/ ۲۱ ويسبادن*

## غزل

د فراق شپې دې اور دي، په غوغا يې تېرومه
خدای دې لنډ کړي هغه عمر، چې بېتا يې تېرومه
ځار دې شم له چوپې خولې نه چې د«نه» ځواب ترې نه اورم
ته چې غلې شې ځواب ته، په رضا يې تېرومه
چې په زړه دې راته ايښي، هر يو داغ مې اوس سوځيږي
ستا په پاس يې نازومه، په خندا يې تېرومه
د رقيب سترګې ړندې شه، بد نظر نه په امان شې
که ښيرا کومه چاته، په دعا يې تېرومه
چې رضا په کې د تا وي، يا چې هرڅه ستا له خوا وي
که جفا، ظلم او ستم وي، په وفا يې تېرومه
ليونتوب په محبت کې، اووم حج دی د مينو
ژوندمې دې ثواب ته وقف کړ، په سارا يې تېرومه
د زمري له غوريدو مې د آواز شور هيڅ کم نه وو
چې مې سوز راشي اوس زړه، ته په ژړا يې تېرومه

۱۶/۵/۲۰۱۴

## ښکلی غزل

تا ته جانانه یو ساده غوندې غزل وایمه
د تا ښایست ته آئینه غوندې غزل وایم
د ځنکندن هره سلګۍ کې به یې نوم واخلمه
خلک به وایي د حمزه غوندې غزل وایمه
ښکلا، حیا، ناز او ادا به دې تصویر کړمه زه
مضمون به یې زوړ وی خو تازه غوندې غزل وایمه
د روح بورا ته مې د تا د ښکلا باغ پرانیزم
د پسرلي خوږه وږمه غوندې غزل وایمه
د وصال هیله دې تلمه له هجرانه سره
خوږې ګناه ته یو سَره غزل وایم
توښه د عمر مې جانانه بې له تا نه هیڅ ده
د تا ثنا کې زه سوره غوندې غزل وایمه
نه مې د خدای بندګي وکړه نه طاعت د بنده
د مینې خدای ته کلمه غوندې غزل وایمه
دارمانونو، حرمانونو، حسرتونو ویر کې
دا دی لګیا یم فاتحه غوندې غزل وایمه

زمريه: مرګ د ناهيلۍ نه پرته بل شئ نه ده

اوس لکه يار ښکلې اسره غوندې غزل وايم

*۲۰/۷/۲۰۱۱ ويسبادن*

## شعر

ځواني د ژوند د پسرلي ښکلی سحر نه ده څه؟!
شور او مستي د یو بې‌پایه سمندر نه ده څه؟!
چې د بنګړیو شرنګ کې ورک شي د څپو شرهار
دا د ښکلا او موسیقي د ملک محشر نه ده څه؟!
چې له وستله د ځلمو مسته خندا غبرګه شي
دا د ژوندون د پسرلي یو خوږ منظر نه ده څه؟!
چې زیړی لمر د سرو شرابو جام ته غاړه وځي
دغه شیبه د بیخودۍ- یو مازیګر نه ده څه؟!
چې د ریا له کنجه پټ شي میکدې ته روان
په زاهد دا ساعت د ټول عمر اختر نه ده څه؟!
چې د وصال زیری سپوږمۍ په پلوشو کې وروړي
د عشق بنده ته دا حالت «حج اکبر» نه ده څه؟!
چې د غم او ښکې دې کړي پاکې د احساس په ګوتو
شعر مسیح، شعر دارو، شعر کوثر نه ده څه؟

*۶/۸/۲۰۰۷ ویسبادن*

## برباد غرور

د یه قربان ږغونه
له ټنګ ټکوره سره،
له سوزه ډکې زړه راښکونکې لنډۍ،
د بګټیو او داستان سُرُونه،
د نیکمیو او غزل تالونه
یا د سروکو نازنیني نغمې
د رباعي او د مقام زمزمې. ..
غمونه باسي له زړه...
روح ته صفا وربخښي

**خو**

د وطن د پیغلې لور په ږغ کې،
د بېوسیو کرېکو،
د ناچاریو چیغو،
د برباد شوي غرور سوو ساندو.
زما په روح باندې لمبې پورې کړې،

زړه يې سوری کړ راته...

په کريکو کريکو يې زار زار ژړلې

آواز يې جګ کړ داسې:

«څنګه دې خواره کړمه خدايه؟

چې همسايه مې د خولګۍ طمعه لرينه»

*۸/۱۲/۲۰۱۵ ويسبادن*

## د جام نغمه

مات کړه د تقوی ځنځیر، جامونه په سر واړوه
هیرې کړه توبې او جنتونه په سر واړوه
نشته د جومات په تربړمیو او سړو کې نور
وسوزه دا شپې او چراغونه په سر واړوه
بړیره د ذاهد، ملا او شیخ په لمبو وسوځه
دا د مکر لومو ته اورونه په سر واړوه
ناب شراب روا نه دي کم عقل او عرب لره
جام له سوما ډک کړه او خوندونه په سر واړوه
وخیږه اسمان ته، کښینه لمر سره، سپوږمۍ سره
ورانو کنډوالو نه نور لاسونه په سر واړوه
مخکې پسرلی دی را روان له رنګینو سره
مل شه له بلبل سره ګلونه په سر واړوه
هغه د کوثرو دنډ بهتره له زم زم نه دی
تو کړه دا مرداري شرابونه په سر واړوه
ته د سینا پوهه د عرب په تیږه مه تله
نر غوندې خیام شه او خمونه په سر واړوه

حیف دی چې ملا یې په مرداره خوله خرجوه کړي

خپل د تاک انګورو نه لعلونه په سر واړوه

راشه د زمري سره د جام د جنګ نغمه سر کړه

بیا د دې دنیا ټول شرابونه په سر واړوه

*۴/۳/۲۰۱۶ ویسبادن*

## ښکلي

چې يې خيال دغومره خوږ دی نو وصال به يې وي ښکلي؟!

چې جلوه يې ړندوي خلک، نو جمال به يې وي ښکلي؟!

چې دوه زړونه همنواشي نو زهره د زاهد وچوي

که د مينې ملک آزاد شي وايه حال به يې وي ښکلي؟!

ترانې د نيکمرغيو هيرې شوې د مطرب دي

که خوښۍ بيا کله راشي، قيل او قال به يې وي ښکلي؟!

بندې کړې يې چې نغمې دي او خندا ګڼي حرامه

چې په درد يې خلک اختر کړي نو زوال به يې وي ښکلي؟!

محبت کې د جانان مې جنتونه راته ښکاري

چې ثواب يې دومره ستر دی نو وبال به يې وي ښکلي؟!

د نامه په شيرينۍ کې يې د شاتو دي کانونه

د سرکو او پستو شونډو خوږ زلال به يې وي ښکلي؟!

*۹/۳/۲۰۱۶ ويسبادن*

## خوږلنې خبرې

ستا چې د دیدن وعدې دروغجنې شوې
شپې د انتظار زما دښمنې شوې
کله چې يې غبرګ غشي را وويشتل
ستا بانه زما د زړګي ستنې شوې
رنګ د مازيګر د ورکړ شونډو ته
ستا خوږې خبرې چې غمجنې شوې
چا د محبت په رمز و پوهه کړې؟
ځوانې انديښنې چې دې تبجنې شوې
بل پلو کتل ورته ګناه ښکاري
سترګې مې چې تا باندې مينې شوې
پالي ښه د تا د هجر غم مدام
اوښکې چې زما دومره پتمنې شوې
لاړلې زمريه يوځه زوړ شولې
اور غوندې خبرې دې خوږلنې شوې

*۲۴/۳/۲۰۱۶ ويسبادن*

## زخمي احساس

زه د سرو شونډو د شربت مزې ته څه ووايم؟
يا به د ښکلو د نظر نيشې ته څه ووايم؟
د ول په ول زلفو تر سيوري لاندې تورې سترګې
د زړونو ښکار ته داسې دام – دانې ته څه ووايم؟
داسې بارخو چې يې شغلې بريښوي سترګې د چا
د عشق جونګړه کې بيا دې ډيوې ته څه ووايم؟
چې دې له غاړې شي را تاوې بلورينې مټې
دغې محشر، دغې قيامت شيبې ته څه ووايم؟
له مرمرينو سينو خيژي چې تبجنې هيلې
د هوس داسې ليونې څپې ته څه ووايم؟
د ښکلو تش ديدن ګودر او مازيګر کې خوند کړي
د يار پالنګ باندې د وصل شپې ته څه ووايم؟
د ګلو لښته چې نڅا کې بند په بند ماته شي
زه به هنر او هم ښکلا ته د دې څه ووايم؟
که انساني ښکلا زړه وړي له انسانه ځنې
د طبعيت د ښکلا معجزې ته څه ووايم؟

وينې او اور، مرګ او چاودنې د وطن چې وينم

ګونګی له غمه شم نو دې لوبې ته څه ووايم؟

زخمي احساس مې د وطن ټپونه لا سوځوي

زمريه زه به د خوښۍ ټپې ته څه ووايم؟

*۲۲/۴/۲۰۱۶ ويسبادن*

## د وفا اندازه

ورکه له ټولو ده د صدق او د ریا اندازه
د وروړګلوی، د محبت او د صفا اندازه
مَیَنان مینه کې حساب او کتاب کفر ګڼي
په کومه تېره تلل کیږي د وفا اندازه؟
چې ځورول د جانان هم ناز او اداء وبولي
هغو ته څنګه معلومیږي د جفا اندازه؟
زړه چې له سترګو سره یوشي مینه وزیږیږي
د دوئ ترمنځه نه ځاییږی د ښکلا اندازه
لمر ته هیڅ ګوري نه خو ځان په ډیوه سوځي پتنګ
د مینې کار دی نه د نور او د رڼا اندازه
ټول په ظاهره قربانیږي او ځاریږي سره
څنګه پیدا کړو د دروغو او رښتیا اندازه
فرهاد د ځان او د جهان له بنده نه شو آزاد
غره کې یې وکینده په مینې د تعدا اندازه
ته خدای له خیټې ځاروی، خو زه انسان ځنې ځان
شیخه یو شان نه ده له ما سره د تا اندازه

*۱۲/۵/۲۰۱۶ ویسبادن*

## د زمري ایمان

چې د یار سترګو کې یې، اور د مینې بل کړ
زما سترګې دې له دې اوره، لوګی شي
زړونه لار باسي له سترګو نه یو بل ته
خپل له خپلو نه په مینه کې، پردی شي
څاروي هم سره، په ژبه کې پوهیږي
ها چې مینه یې په برخه شي، سړی شي
څو چې زیړ رنګ او نمجنې سترګې شته دي
راز د مینې له چا، کله پټیدی شي؟
د ملا، شیخ او زاهد په نوم رسوا شي
چې دښمن شي څوک د ځان او عربی شي
چې په ښکلو او شرابو ایمان راوړي
په رندانو کې حساب شي او زمری شي

*۱۹/۵/۲۰۱۶ ویسبادن*

## ځانمرګي

زه خو حیران یم چې زما وطن کې:

چې د جنت د لیونیانو په لاسونو ټول دوزخ دوزخ دی

لا یې خیالي جنت سیالۍ ته رسیدلی نه شي.

اویا ځلی یې هر پیغله ده له حورو ښایسته او پاکه؛

څنګه طالب او داعش،

دغه وحشي جهادیان

هغه دنیا کې د جنت او د حورانو په شوق. ..

ځان ورکوي مرګي ته....

او جنتي افغانان وژني دلته؟

*۲۰/۵/۲۰۱۶ ویسبادن*

## شین لغمان

ښایسته، مین ته تر بل هرچا خپل جانان ښکاري
ماته هم ښکلی تر چاپیره لوی جهان ښکاري
وايي بهیږي په جنت کې د طهورو ویالې
خیال ته زما د شړومبو مټ د شنه لغمان ښکاري
یمه حیران چې مې بورا او که بلبل کړمه ځان؟
چې وچ، لغړ او سپیره ډاګ یې ګلستان ښکاري
د اوبو یو غړپ ته یې خضر دی د عمر تږي
د هر نفس هوا کې روح ښوري او ځان ښکاري
علم او فن او که هنر دی ختم شوی دلته
توره، میړانه کې هم هر څوک قهرمان ښکاري
«چل» یې د هر څه ورځې، فریب نه ئې تیښته ده تل
مین په پوهه او ملګری د انسان ښکاري
خلک مکې ته ځي شیطان ولي په کاڼو باندې
خو په لغمان کې رټل شوی تل شیطان ښکاري
بیا به یې کله زه خوشحاله او آباد ووینم
دا مې د ژوند وروستنۍ هیله او ارمان ښکاري

۱۴/۲/ ۲۰۱۴

## د افغان اختر

هر ساعت کې سل چاودنې، هر ساعت سل جنازې
هرې خواته ساندې، کریکې، په هر لوري شنې خازې
ژوند له خپله ځانه سترې، مرګ هم سترې شو په مونږه
خرابي او تباهي مو واوښته له اندازې
خوشحالي مو هیره شوې، د خندا پاتې تش نوم دی
اختر هم مونږ ته پردی دی د دښمنو کړي کانې
د روژې په تیریدلو ځینو ځینو ته اختر شی
د افغان به څه اختر وي چې ټول کال نیسي روژې؟
قرباني د لوی اختر کې، مسلمین څاروي حلال کړي
د انسان په غوښو کاندي، مسلمان دلته مزې
خپل – پردي ورننوزي بې پوښتنې بې وسواسه
دا وطن خرابه پروت دی بې څښتن، بې دروازې
خلاص به کله له دې حاله شی هیواد ای وطنوالو؟
چې د هر ځوان ککرۍ ته ناپوهۍ نیسي نیزې

*۵/۷/۲۰۱۶ ویسبادن*

## غزل

د هجر روزګار سره زه څه وکړم؟

خپل د زړه قرار سره زه څه وکړم؟

شوندې يې لمبې په شونډو پورې کړي

دغه سره انکار سره زه څه وکړم؟

ياد يې يو رنګين فصل د عمر دی

دې ښکلي بهار سره زه څه وکړم؟

نور يې په ځنځير او زندان نه يمه

يو د زلفو تار سره زه څه وکړم؟

وايې چې ګيله مينه کې ونه کړې !

هر ځلي انکار سره زه څه وکړم؟

زړه يې چې له لاسه مدام مرګ غواړي

دغسې دلدار سره زه څه وکړم؟

بيا زمري په لپو لپو څښلي دي

دې زاړه ميخوار سره زه څه وکړم؟

*۲۵/۱۰/۲۰۱۷ ويسبادن*

## زما حال

سوری سوری زړه مې خپل حال ته له قراره وتی
تدبیر دی هم ورته د عقل له مداره وتی
پیالې نسکورې، د ساقي ګوتې کرختې شولې
د مستۍ شور چې نور له ستونې د خماره وتی
له سادګۍ نه مې د زړه ور کړ هر چا ته بیرته
د زخمو شمیر یې اوس له حده او له شماره وتی
څومره رسوا شوم، څومره سپک او څومره وړ د خندا
د خپل کاله واک چې مې بل ته له اختیاره وتی
زه یې ملنګ کړم، خیر د خپلې کنډوالې غواړمه
خو- شر، دیره ده دلته، خیر مې دی له ښاره وتی
چا مې لاس ونیوه علاج ته، چا مې درد تسکین کړ؟
د هر «دوست» سر دی اوس له سوړې د ښاماره وتی
څوک به راټول کړي دا خواره واره هډونه زما؟
چې څوک خوسا شو، څوک مردار او څوک له کاره وتی
چې«خود کرده لره نه درد شته نه درمان» زمریه
علاج دې ځکه دی له وسی د هوښیاره وتی
چې بل څوک نه شي لکه ما د ځان دښمن بل چیرته
دکور داستان مې دی له پولو د بازاره وتی

*۲۱/۱۱/۲۰۱۶ ویسبادن*

## شیخه

شیخه چې یاده را ته نه کړې له شرابو توبه!
کلونه وشول چې مې کړې له ثوابو توبه
معنا چې ستڑګې کړم ړندې او پزه هم غوڅه کړم
په پسرلي کې چې که وکړم له ګلابو توبه
آخر انسان یم عقل، پوهه او احساس لرمه
خنګه وباسم له طبلې او له ربابو توبه
هلته دوزخ کې دي را ټول ټول د کمال خاوندان
تا سره یوځای په جنت کې، له عذابو توبه
تا چې ایستلی لا په دې دنیا پرتوګ دی ورته
له هغو حورو او غلمانو او شرابو توبه
چې استنجا او استنشاق کوې هردم ته پکې
له هغو شاتو او شیدو او له شرابو توبه
چې یې په دې دنیا هم مونږ ته دی دوزخ جوړکړی
له هغه فصله، حاشیی او هغو بابو توبه

*۲۲/۱۱/۲۰۱۶ ویسبادن*

## اسم اعظم

مات زړه که زه ستا په وړ ستم یمه
پیټي د نازو ته دې رستم یمه
کله چې غږیږم ستا د عشق په باب
سُر یمه، آهنګ یم، ترنم یمه
تاچې را ته ګنج د محبت راکړ
تل د پوروړی د کرم یمه
ماله بندګۍ نه توبه ووایسته
اوس فقط بنده د خپل صنم یمه
ستا د غمازانو په نادودو زه
ژوبل په زړګي لکه غنم یمه
تاته زه خوښۍ غواړم د ټول جهان
دې هیلې ته سر تر پایه غم یمه
ته لکه د ګل تر او تازه اوسې
زه دې طراوت لره شبنم یمه
سپک مې نوم ځوک کله اخستلای شي
زه د محبت اسم اعظم یمه

ماتٍ مې ټول بتان او بتخانې کړلی

بس نور نو بنده زه د قلم یمه

شین زمری په سرو لارو کې ستړی شو

زه يې لا تراوسه هم همدم یمه

*۲۳/۱۱/۲۰۱۶ ويسبادن*

## په شونډو

چې خپلې شونډې د صنم په شونډو پورې کړمه
د خندا رنګ به مې زه هم په شونډو پورې کړمه
چې نور د چا نازک خاطر باندی ګرد پری نه وځي
خروار رانجه به د قلم په شونډو پورې کړمه
ظالم زمان که رنګ او خوند ځنې محرومه کړمه
وینې د زړه به د صنم په شونډو پورې کړمه
آرمان مې دادی چې جهان ټول په خندا ووینم
شور د خوښۍ به زه دغم په شونډو پورې کړمه
هجر او جفا، کرکه، کینه، ظلم اوجنګ او لوږه
داټول به یودم دعدم په شونډو پورې کړمه
اسمانه څله دې تندی دی را ته تریو نیولی؟
د تا له لاسه به زه سم* په شونډوپورې کړمه

*۵/۱/۲۰۱۷ ویسبادن*

---

* زهر

### ښځه

د ستر خالق د هستونو بې‌مثاله شاهکار،

د طبعیت د تکامل د ځلې لوړه څوکه،

او د لطیفو عواطفو دا ژور سمندر،

په ځان ښیندنې او په زغم کې لکه غر داسې ستر،

د شفقت کان او د مینې مقدسه مولا،

د ژوندانه د کړلیچنو آزموده رهنما،

د تعقل او د کلتور دغه ځلانده غمی

د تحول او پرمختګ دغه بې ویرې اتل،

د آزادۍ- برابرۍ دشمعې سوې پتنګ. ..

***

دا نه «سیاه سره»، نه «عیال» ده او نه هم «عاجزه»

«کډه» هم نه ده او یوازې«کورودانه» نه ده.

نه د جاهلو او رندو په ډېر معیوب منطق کې:

ناقص‌العقل، ناقص‌الدینه نه ده!

آزاد انسان ده او نور وینځه نه ده!

او د ناولو فحاشانو د هوس نانځکه هم نه ده دا.

***

چې انسانیت یې د بقا او خپل دوام په خاطر،

په درناوي او د منت بدل کې سر ټیټوي.

هر نارینه چې نارینه وي نو پرې سر ورکوي.

وفا او زغم، گذشت او صبر یې له عجزه نه دی.

هر نابغه د دې له عقله او وجوده پیدا،

هغه چې ټول جهان پرې ویاړي دې روزلي دي ټول،

پخپله دین، ایمان، مذهب ده داسپیڅلی موجود،

دا الهه ده خدای خلق کړې پرستش لپاره:

دا مقدسه موجود.

مور ده.

دا مو خور ده، دا انا او دا ترور.

دا مو توړۍ ده، دا زمونږ د سترې ژوند ملگرې،

دا مو د ژوند خوږه میوه ده د لورکۍ په نامه.

***

جنت د دې په غیږ کې،

ثواب د دې وجود کې،

جهان د دې په لاس کې،

لوېي د دې په زړه کې،

ښکلا د دې وینځه ده،

نیکمرغۍ دې سره ده،

خوشحالي دا راولي،

***

د دې په ښکلي مخ د غم ګرد د لیدلو نه دی.

دغه موجود که لمانځۀ نه، د ځورولو نه دی.

دا چې وي خړه او خفه ورته اسمان ژړېږي،

پردې ګوزار باندې د خدای عرش او دربار لرزیږي.

په سپکه سترګه او په ټیټ نظر کتل ښځې ته...

د انسانیت د ستر مقام د سپکاوې معنی ده؛

د دې درنښت دی د مریم[1] او آمنې[2] درناوی،

د دې درنښت دی د آدم او د حوا درناوی،

څوک چې انسان وي د انسان د خالق قدر کوي

د خپلې مور خپلې میرمن او د خور قدر کوي

***

افسوس زمونږه په حال افسوس او بیا هم سل افسوسه...

چې د افغان وطن کې:

چې يې سوما[۳]، او سروشه[٤]، اناهيتا[٥] لمانځله،
چې يې ميترا[٦]، سوريا[۷] او هم يې انديرا[۸] لمانځله؛
او د عالم د اداری لپاره اهورا مزدا.
صرف فرشتې ټاکلې.
افغانې ښځې نن په ډېرو ځنځيرو تړلې...
تن يې زخمي، ميړه يې مړ او په اولاد ده بوره،
کله سنګسار شي، کله پرې کړي ورته غوږ او پوزه،
کله له ډېرې ناچارۍ نه ځانته اور واچوي.
د څو وحشيانو په نظر کې اوس لا هم وينځه ده
چې نه د ځان اختيار لري اونه دخپل د اولاد.
***
خو ګرانې خورې، درنې مورې راته ګرانې لورکۍ
چې ځان څوک خلاص نه کړی له بنده، بل يې نه خلاصوي
ای د اناهيتا[۹] ملګرې او ای د ملالۍ[۱۰] خورلنډې،
د رابعې[۱۱] ملګرې ای د ثريا[۱۲] لوره کې.
د تا ژړا او سلګۍ،
زما فرياد اوساندې.
نه کوم اثر لري او نه هم څه ترې لاس ته راځي...

پاڅه را پاڅه!!!

د فرخندی په وینو سور پړونې...

لکه کاوه د آزادۍ او سولې،

د سوکالۍ او تمدن لپاره. ..

او د روانی ناروا او د ظلمونو پرضد،

رپاند بیرغ کړه ځانته.

او ملا دې

د رخشانې د سنګسار شوی شنه بدن په کسات،

او د بابک د پاکو لوښو د عفت په کسات.

او د ناهید د شهادت او مظلومیت په کسات.

په شنه ټیکري وتړه!

او دغه تور زندان یې مات کړه ورته!

او دغه تور دوران ته نور د رڼا ټکی کیږده!

*۶/۳/۲۰۱۷ ویسبادن*

[1] مریم د عیسی(ع) مور
[2] آمنه د محمد(ص) مور
[3] سوما د مقدسو شرابو بوټي
[4] سروشه د قانون الهه
[5] اناهیتا د باران او حاصل‌خیزی الهه
[6] میترا د روښنایی الهه
[7] سوریا د لمر الهه
[8] اندیرا د جنګ الهه
[9] اناهیتا، دکتور اناهیتا راتب زاد د ښځو د نوی نهضت بنسټ ایښودونکي او د ښځو د حقوقو مبارزه
[10] ملاله د میوند اتله
[11] رابعه بلخی افغانه شاعره او د موجودو قیدونو پرضد د قیام سمبول،
[12] ثریا د اعلیحضرت امیر امان‌الله خان میرمن او د ښځو د نهضت او حقوقو غوښتونکی

## دښمن

وخته نور انسان له انسانیته لیری مه بیایه
ګوره چې وحشت به ورته هم ګوته په خوله کیږدي!
هر یو دی قابو د بل وهلو او وژلو ته
خدای که به قدم د ده په پله باندې لیوه کیږدي
کله مو لیدلي دي او یا مو اوریدلي دي؟
څوک دې په مرۍ د خپل اولاد باندې چاړه کیږدي
وینه د انسان چې له پطرولو نه ارزانه شوه
څوک به دې بازار کې په ښه زړه باندې خپل زړه کیږدي
خپل د بیګانه په خوله راضی کاندي خپل مرګ باندې
زر پردي غمونه یې هره دم کې په کاله کیږدي
څه لوبې رواني په انسان دي د پیسو له خوا
دا رنګین کاغذ به لا په مونږه نور نو څه کیږدي؟
جوړ انسان ماشین کړ، خو ده هم انسان ماشین کړ نن
څوک لکه چې ګوته په وجود دیوه مړه کیږدي
دې طاعون* انسان دی دښمن کړی له انسان سره
ګرانه ده چې نوم به د انسان اوس څوک په ده کیږدي

*۱۰/۱۱/۲۰۱۷ ویسبادن*

* سرمایه داری ته له البر کامو نه په پور اخستل شوی نوم

## تنده

وچې کړئ اوبه سمندرونو کې
بیا یې راته ډک کړئ له شرابو نه
ما لکه ماهی په کې لاهو کاندئ
غرونه را ته جوړ کړئ له کبابو نه
ټول خواږه یاران مې راته راولئ
وپوښئ دا سیمه له ګلابو نه
بیا چې سره سر او زړونه یو کاندو
ښه کړو سره بیل بد او خرابو نه
جوړ کړو د یووالي ېی همتا بزم
بیلې مرغلرې کړو حبابو نه
ټول به کړم خړوب په مینه او مې باندې
نوی ږغ به جګ کړم له ربابو نه
ېی حورو به جوړ کړم خپل جنت دلته
تیر یم د کوثرو له ثوابو نه
و به وینځم زه د درست عالم ګناه
ویره له جزا او له عذابو نه

«سره شراب» يې منع کړل په ما باندې

ځکه مې زړه شين دی له «اعرابو» نه

*۲۱/ ۱۱/۲۰۱۷ویسبادن*

## د ولس پاڅون

دا متل دی چې «په تنګ شي نو په جنګ شي»

په شا نه ځي که په خپلو وينو رنګ شي

چې ولس د خپلواکۍ اراده وکړي

نو توفان شي، انقلاب شي او غورځنګ شي

*۹/۲/۲۰۱۸ ويسبادن*

## ورک ګوهر

چې مې د خپلو سترو چیغو څه اثر ونه لید
له دې جهانه مې بل هېڅ څوک کور او کر ونه لید
کلونه ډیر مې د یوې خوښۍ په طمعه تیر کړل
روژه ټول عمر وم خو ما یې هیڅ اختر ونه لید
بس زالوګان دي او کارغان او د تیارو حکومت
پسې شوم ړوند خو مې بیا کله هم سحر و نه لید
په سین د وینو کې لمبیږی افغانان هره ورځ
خو چیرته ما د «انسانیت ها یو ګوهر» ونه لید*

*۱/۷/۲۰۱۸ ویسبادن*

* د سعدی شعر چې وایي: بنی آدم اعضای یکدیگرند که در آفرینش ز یک گوهر اند

## د ښکلا غزل

غواړمه غزل د ښکلا ولیکم
بیا څه په نامه د لیلا ولیکم
مینه او رڼا سره یو ځای کړمه
یو نوی تعبیر د دنیا ولیکم
وصل په دنیا کې بې‌رقیبه کړم
هجر او حرمان په عقبا ولیکم
وشړم غمونه ټول له زړو لیرې
شونډو د انسان کې خندا ولیکم
ټولې ناهیلۍ سره را غونډې کړم
بیا یې په نامه د فنا ولیکم
وینې تویول په ټولو بندې کړم
هېره مرګ او ژوبله تعدا، ولیکم

*۱۸ ۲۰/۷/ ۲۶ سپلیت - کرواتین*

## د سفر موخه

ما له آمو نه تر جيحونه پورې،
د هر انسان او د هيواد د هرې لويشتې قصه...
ځان سره راوړه.
چې يې ووايم د «راين» او د «دوناو» غوږو ته،
خو!
د دغو دوارو سينو،
د دې دردونو ګنجايش نه درلود.
ځکه راغلی سمندر ته يمه،
څو دا بې پايلې غميزه...
ستر سمندر سره شريکه کړمه
او لږ مې خپل زړه کړمه سپک!

*۱۸/۸/۲۰۱۸ سپليت – کرواتين*

## که زه شاعر وای

که زه شاعر وای، ما لیکل د پرګنو شعرونه
هم د خوښۍ، هم بد حالۍ او د غمو شعرونه
د ژوندانه د بې‌خوندیو او ناخوالو قصې
د لوږې، تندې، د خواریو او دردو شعرونه
د ظالمانو د ستم او نارواو بیلګې
د ژړاګانو، اوسیلیو او سلګو شعرونه
چې د درمن ها درنه برخه ترینه خان د ځان کړي
د چاودو پوندو، له پولۍ ډکو لاسو شعرونه
چې د مفتخوره ملا پیټي هم په غاړه واخلي
د خوار بزګر د کال خواري د لوټیدو شعرونه
یا د مزدور د زبیښل شوې وینې، سوو ساندو
وړي کهول ته د خفګان او ځوریدو شعرونه
ما به غندل د غلامۍ دا رنګارنګ ډولونه
د اسارت او د ستم د ورکیدو شعرونه
د سولې هیلې به وې نغښتې هر یو بیت کې زما
ما به لیکل له جنګ سره د جنګیدو شعرونه

زه هم انسان یمه، احساس لرم، شعور لرمه
ځکه لیکل به مې دښکلو آرمانو شعرونه
د انساني ژوندون له پاره د انسان تلوسې
د غورزو - پرزو، د تلاش او د رزمو شعرونه
مابه د کرکې اغزي هم د عشق په لاس نازول
لیکل به ما د محبت او د پیرزو شعرونه
د دین او رنګ، ژبې او جنس له تورو پولو کرکه
په ټول جهان کې د توپیر د ورکیدو شعرونه
څو د انسان په څیر د ژوند په خوږو وپوهیږي
ویده ولس ته د پاڅون او ویښیدو شعرونه
مابه د غم اوښکې لیدلې د مظلوم سترګو کې
له هوسۍ سترګو نه په ناز هم د کتو شعرونه
هغه نادان ده چې خوشۍ او خندا بده ګڼي
دسرو شرابو د بزمونو او نشو شعرونه
د تورو زلفو، شرابي شونډو خوږې خبرې
د مهرویانو د خرام او مکیزو شعرونه
خوږه دنیا د وصالونو به مې تل ستایله
د عشق نړۍ نه د هجران د ورکیدو شعرونه

ما مې ځان وازمايه، تورې مې کړې ډيرې پاڼې
خو و مې نه ليکل د خلکو د لوستو شعرونه
نه زه شاعر شوم، نه مې چا د زړه آواز واوريده
بس ده نور نه ليکمه هيڅ‌کله پښتو شعرونه

*۳/۱۲/۲۰۱۸ ويسبادن*

## زرينې اندېښنې

دومره به دې ښکل کړمه چې شوندې به دې ويلې شي

پرېږده چې زړګی د رقيب نور هم وينې وينې شي

زه به د هجران د اوښکو ډکه لمن وڅنډم

کله چې نصيب مې د وصال شيبې رنګينې شي

تريخ ژوندون او مړينه د «فرهاد» نورڅومره وژاړم*

پرېږدئ چې د ژوند دغه روستي شپې مې شيرينې شي

چېر ته د عشق غم، چېرته زما دغه وړوکی زړه

بارې مېړتون باندې درغنې چې سنګينې شي

د ا اداء د يار، وفا، حيا او بې جوړې ښکلا

نه به شي پيدا پکښې که ټولې زر حسينې شي

مينه خو طلاه ده خو کيميا مې د جانان خيال ده

کله چې په زړه شي اندېښنې زما زرينې شي

*۲۱۷/۱۱/ ۱۰ ويسبادن*

---

* زما ورور حميدالله فرهاد چې په ۵۲ کلنۍ کې وفات شو

## غزل

له ځانه نه یم لا وزګار چې تا ته ورسیږم
د تاله لاسه به ای زړه سارا ته ورسیږم!
ښځې د مینې مې هډونه راته ښه پاخه کړل
اوس به د کرکې هر یوې تعدا ته ورسیږم
د جفا داغ به یې له زړه نه هله وباسمه
چې د رقیب په اوږو سپور لیلا ته ورسیږم
یارانو څو به د ځوانۍ په قصو کام خوږوم
پرېږدئ چې لږ خو د زړښت ښکلا ته ورسیږم
یو زړ خمونه مې دې څښکلي لاپې څښکمه پسې
په دغه لاره به آخر سوما ته ورسیږم
که دې په سهوه کې مات کړی وي کوم زړه زمریه !
د تا په ځای پرېږده چې زه سزا ته ور سیږم

*۲۰۱۶/۱/۱۴ ویسبادن*

## بې‌چاره‌ګي

زه مې د عمر ماښامونو سره څه وکړمه
اوس د لمرمخو له نازونو سره څه وکړمه؟
تانه به لاس واخلم او زړه نه به دې هم وباسم
زه مې د ژوند ډېرو يادونو سره څه وکړمه؟
که دې جفا يوه يا دوه وه ما په زړه منلې
د سرو سکروټو بارانونو سره څه وکړمه؟
په ټول بدن کې مې د څړيکو نيزې وخوځيږي
د تا په لاس جوړو زخمونو سره څه وکړمه؟
څه د پردو له ناکردو نه خو ګيله نه کيږي
زه مې ظالمو، خويندو ورونو سره څه وکړمه؟
د سترې مينې داغ هم نه وي د مقياس په قيد کې
له شميره وتي دې داغونو سره څه وکړمه؟
چې دې د خدای پر ځای سجده ورته کوله ګرانه
زمريه وايه چې پې ظلمونو سره څه وکړمه؟

*۲۰۱۵/۲/۱۵ ويسبادن*

**د شاعر لنډه پېژندنه:**

اسدالله زمری د حاجي عبدالحمید زوی په ۱۳۳۳ کال کې د لغمان په ولایت کې زیږیدلی، د لښکرګاه د لیسې تر تمامولو وروسته ئې خپل لوړ تحصیلات د ماستري تر درجې پورې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې سرته رسولي دي.



زمری د هیواد په بیلابیلو حقوقي ارګانونو کې د دندې تر سره کولو وروسته په ۱۳۷۰ لمریز کال له خواږه وطن نه وتلو ته اړ شو اوتر اوسه په المان کې د پردېسۍ تریخ ژوند تیروي .

دی له ۱۳۵۶ کال راهیسې شعرونه لیکي.
چاپ شوي آثار یې دادي:

۱. «اوښکې او سکروټې»، لومړۍ شعری ټولګه د چاپ کال ۱۳۶۶.

۲. «د لمبو ګلی»، دوهمه شعري ټولګه د چاپ کال ۱۳۷۹

۳. «د پتنګ وزر»، دریمه شعري ټولګه د چاپ کال ۲۰۰۸ م ۱۳۷۸ ش کال

۴. «په افغانستان کې د اساسي قوانینو تدوین او د ځینو حقوقي موازینو څرنګوالي ته یوه کتنه». د چاپ کال ۱۳۶۸

https://rahparcham۱.org